# ځوان فکر

د انسانیت معیار انسانیت دی...



پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

راټولوونکی: محمد هارون ایوبي

بسم الله الرحمن الرحيم


**د کتاب خانګړني**

د کتاب نوم : ځوان فکر

ليکنه او ټولونه : محمد هارون ايوبي

برېښناليک : M.Haroon_Ayoubi@yahoo.com

اړيکشمېره : ۰۷۷۳۳۰۹۶۵۶

ډيزاين : د کتاب رسونې فرهنګي – خدماتي ټولنه

چاپ کال : ۱۳۹۷ ل. / ۲۰۱۸م. کال

چاپشمېر : ۱۰۰۰

د خپرونو لړ : (٤٤٢)

**خپرندوی**

## ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار

ګودر کتاب او قرطاسيه پلورنځی، لاندېنی پوړ، اسحاق زي مارکېټ، بزازي خلورلارى، جلال اباد

۰۷۹۸٤۸۷۸۷۹ - ۰۷۸۹٤۷٤۷۳۰ - ۰۷۹۷۵۰۰۵۰٦

meenasadiqs@gmail.com


د چاپ ټول حقوق له ګودر کتاب خپرنځي سره خوندي دي.


آريان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY


# ځوان فکر

(د بېلابېلو ځوانو ليکوالو او پوهانو خبرې)


دا کتاب ( ځوان فـکر ) د آريان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خويندو ته دي ډالۍ وي ....!

او ما آريان په خپلو نيکو دعاګانو کې ياد ساتئ ...!


ليکنه او ټولونه: محمد هارون ايوبي

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

# ډالۍ

د فاني دنیا جنت (مور)،

مهربانه پلار

او خپل تشویقګر او همفکر ورور ته!

م. هـ. ایوبي

دا کتاب ( ځوان فــکر ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو وروڼو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!



## د خوان فکر مرغلرې

د یوې موضوع په تړاو یو څه لیکل خورا ستونزمن دي، بیا د کتاب لیکل تر دې هم زیات کوښښ او حوصله غواړي، خو که د خوانانو فکري روزنې لپاره یو څه لیکل کېږي، نو دا مو د راتلونکي نسل لپاره د تشویق یوه ښه لار کېدلې شي.

په خوان فکر کتاب کې له ۶۰۰ زیاتې لنډې او پر مفهومه لیکنې دي، چې د بېلا بېلو خوانانو لیکوالانو تضمین کوي، خای پر خای شوي او د ټولنې حقیقي انځور پکې وړاندې شوی.

د ټول کتاب پیل - پای اساسي او بستیزه موخه د خوانو لیکوالانو لیکنو ته ارزښت ورکول دي او د اوسني پیر خوانانو ته دا ذهنیت ورکول دي، چې په ټولنه کې د لیکوالۍ دود رابج کړي، ترڅو د ورځني ژوند اړینو توکو، لکه: لباس، فېشن، عبس وخت تېرول او .... له سیالۍ خلاص او لیکوالۍ ته حق اولیت ورکړي.

د خوانانو په کتار کې به ډېر کم داسې د علم پر ګاڼه سمبال خوانان وګورو، چې له خپلو زده کړو سالمه ګټه پورته کړي، د کتاب ترتیبوونکی محمد هارون ایوبي د زده کړیالۍ په دوران کې هغه خوان دی، چې د نورو باسواده کهول(خوانان) لیکنو ته په درنه سترګه ګوري.

د هغو د لا هڅونې په موخه یې لیکنې په ډېر کم او لنډ وخت کې را اخلي او د کتاب بڼه ورکوي، پیل یې بختور شه او د لا پنځوونو په هیله یې یم.

په درنښت

نوزاد الله ودیر

د خوانو ژورنالیستانو خپلواکې ټولنې مسوول او د ژورنالېزم څانګې استاد

## ځوان ځوک دی؟

هغه ځوک چې د هېواد د قوانینو او شرایطو مطابق له ۱۸ کلونو څخه تر ۳۵ الی ۴۰ کلونو عمر ولري. فزیکي او فکري وړتیا یې د ټولنې تر نورو وګړو پیاوړې، انرژي یې د قوي فکر سالم او مثبت وي او په ټولنه کې تر نورو خان ډېر مسوول وګڼي.

ځوان هغه ځوک چې د روښانه راتلونکې هیله او تمه ترې کېدای شي.

ځوان چې په فزیکي لحاظ غښتلیو او ستونزمنو کارونو ته چې نور یې په سختۍ تر سره کوي په اسانۍ اوږه ورکوي.

پیاوړي ځوانان هیڅ ډول ستونزو ته نه تسلمېږي، تر اخره سلګۍ مبارزه کوي ترڅو خپلې ټاکلې مثبتې موخې ته خان ورسوي لکه یو شاعر چې وایي:

هغه ځــوان چې د وطن په در سوزېږي
که ســل ځلـه په مخ لوېږي پورته کېږي
ما تـــرې سل ځله قربان او صدقـه کړې
چې د مرګ په پوله ناست وي لا زنګېږي

له دې بیتونو را معلومېږي، چې ځوانان په اسانه نه تسلمېږي که هر ځومره له ستونزو سره مخ شي مبارزه کوي، نه نهیلي کېږي او خپل ژوند په امیدونو تېروي.

د ځوانانو احساسات پیاوړي او سپېڅلي وي، ځکه خو یې کله کله نشي کنترولولای او ځینې پردیپال له دې موقع څخه په ګټې اخیستنې د ځوانانو له احساساتو خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره د خان لپاره په ګټه کار اخلي او سپېڅلي احساسات یې د ناوړه خلکو ښکار شي.

ځواني هغه زرینه موقع ده، چې په ژوند کې یو ځل راځي، بختور هغوی دي چې له دې موقع مثبته ګټه پورته کړي او د راتلونکي لپاره په هره برخه کې



خان ته زېرمه وکړي، نه دا چې وخت ترې په لهو لعب او د نفسي خواهشاتو د غوښتنو مطابق تېر او بیا وروسته لاسونه مروړي لکه رحمان بابا چې وایي:

د ځوانی عمر دې تېر کړو په غفلت کې
په پیری کې له څه زېرمه د محشر کړې

## فکر څه شی دی؟

هر څه که مې وژنې خیال او فکر راته مه وژنه
دی کې مې وطن ته لوی تاوان لیدلـــی دی

د الفت صیب له دغو بیت معلومېږي، چې د یو انسان ـ ټولنې او هېواد د غلامۍ لپاره تر ټولو اسانه لار فکر وژنه او فکري استعمار دی.

مانا دا چې فکر رغونه او فکري تخریب دواړه موخې ته د رسېدو لپاره لومړني شرایط دي، که د اوسنیو شرایطو مطابق فیصله وشي، نو غوره مثال یې بهرني استخباراتي کړۍ او په داخل کې د بهرنیو ګوډاګیان او جاسوسان دي، چې فکرونه یې د ځینو مادیاتو او معنویاتو په منلو سره اخیستل شوي او د نورو په ګټه کارونه کوي، د دوی له وجود څخه په ګټې اخیستنې بهرنیان خپلو شومو موخو ته خان رسوي، داسې خلکو ته تر ملي ګټو بهرنۍ او شخصي ګټې اولیت لري.

له همدې لارې بهرنۍ کړۍ اکثریت په اقلیت بدلوي، چې په اسانه پرې خپل فکر تحمیلولای شي.

فکري بیا رغونه او بدلون قوي ترون ته اړتیا لري، د شرایطو مطابق چې بېروني کولتوري او فکري یرغلونه تر بل هر څه ډېر نفوذ کړی، فکري بیارغونې ته ډېر کار په کار دی، دا مسوولیت د یو ډلې او ګروپ دنده نه؛ بلکې د هېواد د فرد

فرد مسوولیت دی، چې مثبتو موخو ته د رسېدو لپاره خلکو ته مثبت فکر ورکړي.
دا ببروني پروژې دي، چې موږ يې د ټولنيزو شبکو له لارې په قومي، ژبني، مذهبي او نژادي مسايلو مصروف ساتلي يو.
زموږ فکر بايد له استعمار خلاص او پراخه وي، په هيڅ ډول د چا د شومو موخو ښکار نشي او په هر حال کې داسې ازادي ولري، چې په خپلو مثبتو پلانونو کې خپلواکي او صلاحيت لرونکي وي.

که فکر بند په زولنو کړم
چې رانه خلاص شي مخامخ جانان ته ځينه

مانا که فکر هر څومره انحصار کې وي، بيا هم بايد خان موخې ته وررسوي.
ټاکلې موخې مو په معمولي او عادي فکري صدمې سره مه بدلوئ.

انجينر محمد اسلم اميد
د ښېوې ولسوالی د خواناتو پخوانی نماينده
او د خواناتو تعليمي مرکز مدير



## خپلې خبرې

پاک څښتن تعالی دنيا له ډېرو نعموتونو ډکه او د انسانانو د استفادې لپاره پيداکړې، خو ارزښتمند انسان بيا  هغه دی، چې په دې فاني نړۍ کې يو چاته خير ورسوي، نو ما هم دا ښه او غوره وګڼله، چې د کتاب په ښه داسې يو څه ترتيب کړم، تر څو ټولنې ته يې ګټه ورسېږي او د نوي نسل د مثبت فکر دروازې پرانيزي، دا کتاب چې پکې ټول د خوان کهول نظريات او لنډې ليکنې دي، په ترتيبولو يې يو څه ټکنی وم.
ولې چې کتاب ليکل يا ټولول څه اسان کار نه دی او هر کله چې يو څوک کتاب ليکي، نو پر هغې يې ماغزه خوړل کېږي او چې کله پرې ماغزه وخوري، نو لوستونکي اړ دي، چې په مينه او حوصله يې ولولي.
ممکن دې کې داسې خبرې هم وي، چې ستاسې د ټول ژوند د مثبت بدلون لامل وګرځي، خو ترځنګ يې شايد دا کتاب نيمګړتياوې هم ولري، نو له تاسو درنو لوستوالو په خورا درنښت هيله کوم، چې د اصلاح لپاره راته اړينې لارښونې وکړئ.
کور ودانی کوم له هغه چا، چې د کتاب ترتيب او ټولولو  لپاره يې هڅولی يم، مشر ورور مې انجينر محمد اسلم اميد او ترځنګ يې خپل قدرمن استاد ليکوال او ژورناليست نوزاد الله ودېر خخه، چې زما دا کوچنی ارمان يې په يو لوی معنوي ارزښت بدل کړ او دم ګړۍ يې راته اړينې لارښوونې کولې، ترڅو داسې څه ترتيب کړم او د کتاب بڼه ورکړم، چې د هر چا د لوستلو وړ وي او

په اخر کې مننه کوم له خوان ژورنالیست توفیق ایوبي او عمران اشنا څخه، چې د کتاب په ترتیب او کتنه کې یې راسره بوره د زړه له اخلاصه همکاري کړې او د ټولو هغه لیکوالو ورونو مننه، چې خپلې لیکنې یې راکړې او زما کتاب ته یې ښکلا وروبښله.

د ګودر کتاب خپرنځي او د کتاب رسوڼې خدماتي- فرهنګي ټولنې مشر زلمي لیکوال او شاعر صادق الله صادق دې هم کور ودان وي، چې د کتاب د چاپ چارې یې په غاړه واخیستې او ستاسې ترلاسونو یې درورسولو.

ستاسې د لوستلو او لاربنونو په هیله.

په درنښت

محمد هارون ایوبي

د الفلاح پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصل

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ، کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله ژوند ولري .!

په درنښت | آریان پښتو کتابتون

## بسم الله الرحمن الرحيم

❖ ((حقیقي مسلمان هغه څوک دی، چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس له شر څخه په امان وي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((څوک چې د امانت مراعات نه کوي کامل مومن نه دي، همدا راز څوګ چې په خپله وعده وفا نه کوي، هم د کامل دین خاوند نه دی.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((هر څوک چې په الله جل جلاله او اخرت ایمان لري، نو ښایي، چې خپل ګاونډي ته ضرر ونه رسوي. د خپل مېلمه احترام وکړي او کله چې خبرې کوي، پرته له حق خبرې او عامو ګټو څخه بل څه ونه وایي او که نه نو پټه خوله دې واوسي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((هیڅوک به له تاسې څخه جنت ته داخل نه شي، ترڅو چې د کامل ایمان خاوندان نه شي او د کامل ایمان خاوندان نشي کېدای، څو چې په خپل منځ کې مینه او ورورولي ټینګه نه کړي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((ایا تاسې ته هغه کار در وښایم چې په کولو سره یې ستاسې په منځ کې مینه او ورورولي ټینګېږي، هغه یو بل ته د سلام ورکول دي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه



❖ ((ایا تاسې له هغې ګناه څخه چې تر ټولو لویه ده، خبر نه کړم! هغه له پاک الله (جل جلاله) سره د شریک پیداکول، د پلار او مور ځورول، په دروغو شهادت یا دروغ ویل دي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((پاکي د ایمان یوه برخه ده.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((کامل مسلمان هغه څوک دی، چې د ښه خوي خاوند وي.))

دحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((په هیڅ مومن کې دغه دوه خاصیتونه نه یوځای کېږي: بخل او ناوړه خوي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ ((صدقه د پاک الله (جل جلاله) قهر او غضب کېنوي او سړی له بدې مړینې ژغوري.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ (( کله چې انسان مړ شي او عمل یې قطع شي، خو د درېو شیانو تل ثواب ور رسېږي او هغه دادي: ((صدقه جاریه، پوهه (علم) چې د خلکو د ګټې وړ ګرځېدلی وي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي.))

د حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) له غوره وېناوو څخه

❖ هغه مينه، چې له تاسره يې لرم، د ليکلو الفاظ ورته نه لرم.

انجينر محمداسلم اميد

❖ په يو مجلس کې د چا په اړه داسې خبرې مه کوه، چې په راتګ سره تاته خپل ځان ملامته او پر ښکاره شي.

انجينر محمداسلم اميد

❖ که له يو چا تېروتنه وشي بيا- بيا يې ورته مه يادوه، ځکه هر ځل يادول د هغه د اصلاح نه؛ بلکې د توهين سبب ګرځي.

انجينر محمداسلم اميد

❖ هغوی چې هيڅ وخت يې په تا بې له ښو بد نه وي پيرزو، مور او پلار دي، نو د مور او پلار هغه خبره چې تاته د ځان په تاوان ښکاري هم د نورو ترخو خبرو خوږې دي.

انجينر محمداسلم اميد

- ماته دا مهمه نه ده، چې ته دې په حوله حتما د قناعت کولو اقرار وکړې، مهمه دا ده چې قناعت وکړې، که هغه په پټه هم وي.

انجينر محمداسلم اميد

❖ خپلې ژبې ته خدمت کول تعصب نه؛ بلکې د نورو ژبو ته سپکاوی د تعصب په مانا دی.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ که غواړې، چې د ملګرتيا اعتماد مو پر يو بل تل پاتې وي، نو له هر ملګري څخه د هغه د وړتيا په اندازه تمه ولرئ.

انجينر محمد اسلم اميد



❖ هغوی، چې په ځان کې وړتيا او استعداد نه ګوري، ستا احترام ورته هم د خپل حماقت زور ښکاري.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ هغوی، چې د قوي ارادې خاوندان دي، د ځينو پردې پالو او تالي څټو اخطارونه او چغې سورې يې مورال نشي کمزوری کولای.

انجينر محمد اسلم

اميد

❖ ځينې خلک په کوچنيو خولو ډېرې لوی او بې مسووليته خبرې کوي، خو ځينې بيا د يوې کوچنۍ خبرې لپاره هم په ساعتونو فکر کوي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ که غواړئ، چې ټاکلې موخې او هدف ته ورسېږئ، له هر ډول ستونزو سره په سره سينه مبارزه وکړئ.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ کوشش وکړئ، چې همفکره ملګري پيدا کړئ. که څوک درسره د نظر اختلاف هم ولري، ورسره کينه مه کوئ، ځکه که په حقيقت کې متوجې شئ له همدغه شخص څخه چې ته ورسره د نظر اختلاف لرې، ډېر نور څه زده کولای شې.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ لوی عامل چې تاسې يې له امله خپلې ټاکلې موخې ته نه رسېږئ، نااميدي او د ماتې منل دي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ د يو شخص د مرورتيا له امله هغه کارونه او کړنې نيمگړې مه پرېږده، چې د ډېر ولس په کې خير وي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ احمقان تل خپل کارونه د قصد له مخې کوي.

انجينر محمد

اسلم اميد

❖ هغوی، چې په موقف لوړ او په اخلاقو کې کمزوري دي، په دې مانا ده، چې د وخت گټه يې کړې، خو د ژوند سرمايه يې له لاسه ورکړې.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ هغوی هيڅکله له خانه مه خپه کوئ، چې ستاسې لپاره يې تل نور خپه کړي دي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ ځوانان بايد تر نورو ډېر ځانونه د ټولنې پر وړاندې مسوول وگڼي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ بااحساسه او بااستعداده ځوانان تل له خپلې وړتيا څخه د ټولنې د بهبود په موخه کار اخلي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ ددې لپاره، چې د ستونزو گراف را ټيټ کړو، نو په کار ده، چې له خپلې انرژۍ څخه د ستونزو په له منځه وړلو کې کار واخلو، نه د ستونزو په پيدا کولو کې.

انجينر محمد اسلم اميد



❖ هيڅکله په داسې موضوع بحث مه کوئ، چې ستاسې د ملامتی باعث شي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ مبارزه موخې ته د رسېدو لپاره تر بل هر څه ډېره اړينه ده.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ زمونږ د نوي نسل احساس، استعداد او وړتيا د ستاينې وړ ده، خو کاش چې سالم مشران مو درلودای او دا ځوانان يې لا پسې هڅولی وای.

انجينر محمداسلم اميد

❖ د ملگرې په پرمختگ مه خپه کېږه، يوه ورځ نه يوه ورځ دې په درد خوري، يوازې سالم رقابت ورسره وکړه، چې ته ولې دې موقف ته نه يې رسېدلی.

انجينر محمداسلم اميد

❖ ښه دهقان د کمې ځمکې اعظمي گټه پورته کوي او ښه مدير د کم استعداد څخه ډېره گټه اخلي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ د نورو خبرې له خپل ادرسه شريکول بده خبره نه ده، خو د ليکوال نوم نه اخيستل د هغه په حق کې ظلم دی.

انجينر محمداسلم اميد

❖ هغه کار او خبره چې خپله له اول نفر سره يې د کولو امکان وي، د دويم شخص په لاس جواب مه ورلېږئ، ځکه ممکن ستاسې خبره له اصلي مانا څخه تغير وکړي.

انجينر محمد اسلم اميد

❖ ټول خلک گناهگار نه دي، ته بدگومانه یې.

انجینر محمداسلم امید

❖ دا چې ته ولې نه پوهېږې، چې زه په زړه کې تاته څومره مینه لرم، په دې زه هم نه پوهېږم.

انجینرمحمداسلم امید

❖ تاته به نه ښکاري، خو زما مینې ته دې ډېره بې احترامي وکړه، بس دی نور مې د زړه له کوره کډه وکړه.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ته به یې جرات او استعداد وستایې، خو دا به داسې کړنه ترسره کړې چې تا په خپلو ستایلو پښېمانه کړي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هره ټولنه چې بااحساسه، بااستعداده او د علم په گاڼه سمبال خوانان ولري د روښانه راتلونکې په مانا ده.

انجینرمحمداسلم امید

❖ هغوی چې له خدایه نه ویرېږي، تاسې یې د ډارولو هڅه مه کوئ.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د هغه بار او یا وزن د اوچتولو دعوې کوه، چې ته یې د اوچتولو او یا هم د وړلو توان په ځان کې گورې، نه چې ملا دې درماته کړي.

انجینر محمد اسلم امید



❖ دا وضیعت نه ښه کېږي او دا هېواد نه جوړېږي، دا د کمزورو خلکو خبرې دي.

انجینر محمداسلم امید

❖ ستا د ملامتی لپاره همدومره بس دی، چې جواب نه راکوې.

انجینر محمد اسلم امید

❖ په زیاتو مسایلو کې زمونږ پرېکړې په بېړه او چالاکۍ سره وي، چې بیا وروسته یې په تاوان پوهېږو.

انجینر محمداسلم امید

❖ هغوی چې مخامخ خبرې یې ترخې دي، په اخلاص یې مه بدگومانه کېږه.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ستا لویه سهوه او تېروتنه همدا ده، چې ځان درته تر ټولو هوښیار او جامع الکمالات ښکاري.

انجینر محمد اسلم امید

❖ اصیلو خلکو ته خپل اصلیت مهم وي، نه دولت او موقف، خو کم اصل خلک بیا د موقف په ترلاسه کولو او د دولت په پیدا کولو سره ځان بدلوي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ کله که چا په ازموینه کې ناکام وبللې، مایوسه کېږه مه، ځکه ممکن هغه ستاسې په ازموینه کې له یو ادرس څخه نسرې درکړې وي او ستاسې هغه وړتیا او استعداد څخه نه وي خبر، چې د هغه له برکته په ټولنه کې تاسې یو منلی شخص یاستئ.

انجیتر محمداسلم امید

❖ هېر مې نه يې ياره! منم چې جسما سره ډېر لري يو، خو قلبا مو ترمنځ هيڅ فاصله نشته.

انجینر محمداسلم امید

❖ هغه چې ستا له ادرسه موقف ته رسېږي او سبا ستا په کړو کارونه نيوکې کوي، پرې وويارې او دا خپله لاسته راوړنه وګڼې.

انجینر محمداسلم امید

❖ د تل لپاره د نورو له ادرسه خان معرفي کول ستا په کمزوري دلالت کوي، کوښښ وکړه چې له خپل خان څخه داسې قوي ادرس جوړ کړې، چې نور ستا له ادرسه ګټه واخلي.

انجینر محمداسلم امید

❖ باید ډېره مطالعه وکړی تر څو په دی پوه شی چې نه پوهېږي.

قدير الله.........(کاتب)

❖ دومره نشه ما په بل هيڅ نشه کوونکي څيز کې ونه ليدله، کومه نشه چې په هغه اوښکه کې وه، چې ستا له سترګې يې سفر پيل او په اننګي يې دمه کړې وه.

انجینر محمداسلم امید

❖ د څو مفسدو او شر خوښوونکو خلکو لخوا د نېکو خلکو په کارونو نيوکې او بې خايه تخريبول، د هغوی د کارونو توصيف دی، څکه که هغوی د نېکې کارونه نه و کړی، دوی کله تخريب کولای شو.

انجینر محمداسلم امید

❖ له نېکو خلکو سره مشوره کولای شي، ستاسې تصميم پياوړی او موخو ته د رسېدو منزل مو لنډ کړي.

انجینر محمد اسلم امید



❖ کله که يو څوک تاسې پسې داسې خبره وکړي، چې په اورېدو يې تاسې پريشانه کېږئ او دريېم کس يې سره د پوهې تاسې ته راوړسوي، په دې پوه شئ، چې تر هغې کس چې تاسې پسې يې خبرې کړي، دغه چې تر تاسې يې رارسوي ډېر احمق او بې کاره انسان دی.

انجینر محمداسلم امید

❖ يووالي ته کار کول په کار دي، نفاق اچوونکي د دې خاورې او ولس دښمنان دي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د خينو خلکو موقفونه لوي، خو حرکات او کړنې يې ډېرې کوچنۍ وي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د هغه خلکو په زړه کې ډار ډېر وي، چې نورو ته ناسمې لارښوونې کوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ له حده ډېر اعتبار او له حده ډېره بې اعتمادي، دواړه نه دي په کار.

انجینر محمداسلم امید

❖ د دنيا هيڅ څيز، چې يې قيمت نه شي پوره کولای د مور او پلار مينه ده.

انجینر محمداسلم امید

❖ کوم ځوانان چې غواړي ځانونه خپلې موخې ته ورسوي، نو د خپلو کارونو په یوه نه یوه برخه کې حتما د نااهله خلکو له پېغورونو سره مخ کېږي، چې باید د زغملو حوصله یې ولري.

انجینر محمد اسلم امید

❖ که اولاد ټول عمر د مور او پلار په خدمت کې تېر کړي، خو د مور د یوې لحظې زحمت او تکلیف ته نه شي رسېدلای.

انجینر محمداسلم امید

❖ کله چې د یو چا لخوا د کوم کار د ترسره کولو واک او اختیار درکړل شي، نو تاسې هم باید خپل کارونه تر هغه حده ترسره کړئ، چې واک یې درکړل شوی وي، نه دا چې واک درکوونکی په خپل کار پښېمانه کړئ.

انجینر محمداسلم امید

❖ ځوانان باید هیڅکله خپل احساسات دومره له لاسه ورنه کړي، چې نور یې له احساساتو ناوړه ګټه پورته کړي.

انجینر محمداسلم امید

❖ خوان باید خپله ټوله انرژي د بدبختیو د له منځه وړلو او د سولې د راوستلو لپاره په کار واچوي، ترڅو یې خپل مسوولیت ادا کړی وي.

انجینر محمداسلم امید

❖ عجیبه ده زیاتره دښمنۍ له مینې را منځ ته شوي دي.

انجینر محمداسلم امید



❖ ماشومانو ته مو د خبرو او نظر ورکولو وخت ورکړئ، چې استعدادونه یې وروزل شي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د ظالم په خلاف د مظلوم ملاتړ زمونږ او ستاسې دنده ده، خو د حق پټول بیا خپله لوی ظلم دی.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د عقل خاوندان اخلاق د خپل ژوند لویه سرمایه ګڼي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د ځینو خلکو الفاظ او حرکات چې ظاهر مونږ او تاسې ته شېرین او نېک ښکاري، په حقیقت کې پوره د زهرو ډک وي.

انجینر محمداسلم امید

❖ ځینې خلک چې ظاهر مونږ او تاسې ته ترخه ښکاري او یا یې هم خبرې ترخې وي، په اصل کې دا هغه کسان دي، چې زمونږ او ستاسې په بدو روادار نه دي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د ژوند د ځینو خاطرو بیا یادول د افتخار او ویاړ په موخه نه؛ بلکې د پښېماني په موخه وي.

انجینر محمداسلم امید

❖ که په هر موقف کې یاستئ، خپله ستونزه مقام ته په داسې الفاظو سره تشریح کړئ، چې هغه ستا ستونزه په صحیح شکل سره درک او جدي وګڼي.

انجینر محمداسلم امید

❖ ځینې خلک نالیدلي ښه وي. انجینر محمداسلم امید

❖ تر ټولو لویه کم عقلي او تېروتنه دې همدا ده، چې ځان تر نورو پوه او هوښیار ګڼې.

انجینر محمداسلم امید

❖ کله که مو دا له وسه نه وي پوره، چې د یو چا مثبتې نقطې راواخلې او توصیف یې کړې، نو د منفي نقطو په پیدا کولو پسې یې هڅه مه کوئ.

انجینر محمداسلم امید

❖ کله چې خبرې له ټاکلي وخت او ټاکلي موضوع څخه ډېرې شي، خپل مانا او مفهوم له لاسه ورکوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ بریالی انسان هغه څوک دی، چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره هر ډول ستونزه په ځان ومني.

انجینر محمداسلم امید

❖ په ډېرې کوچنۍ سهوې سره لوی کارونه خرابېدلی شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ځیني نجونې او ښځې په سینګار کولو سره سینګار ته بې احترامي کوي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هغه مصروفیت چې ګټه یې په لاس نه درځي او لا درڅخه خلک متضرر کېږي، هغه بېکاري ترې ډېره ښه ده، چې خلک دې له ضرر څخه په امان کې وي.

انجینر محمد اسلم امید



❖ د ژوند هره لحظه تا لپاره یو چانس دی، کوشش وکړه چې له دې چانس څخه مثبته ګټه واخلې.

انجینر محمد اسلم امید

❖ په منفي فکر سره مثبتې نتیجې ته رسېدل اسانه کار نه دی.

انجینر محمد اسلم امید

❖ مخکې له دې چې د موقف غوښتونکی شې، لومړی به په ځان کې وړتیا پیداکړه.

انجینر محمد اسلم امید

❖ کله کله خیر دی، د بل چا د زړه د خوشحال ساتلو په خاطر هر وخت د خپل زړه خپه کول نه دي پکار.

انجینر محمداسلم امید

❖ په داسې چا اعتماد ونه کړې، چې خپله کړې خواري به په سیند لاهو کړي.

انجینر محمداسلم امید

❖ بې مشورې کار تباهي ده.

انجینر محمداسلم امید

❖ زما هره نېکي ستا په اند لویه تېروتنه ده، چې ددې فاصلې له منځه وړلو لپاره ډېر وخت ته اړتیا ده.

انجینر محمد اسلم امید

❖ کله چې مینه رښتیني وي، د هیڅ ډول ګواښ، وېرې او ډار پروا نه کوي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ له یو چا سره په یو ځل اړیکه نیولو د خپلو ټولو رازونو شریکول ډېر زر پښېماني لري.

انجینر محمد اسلم امید

❖ که د یو رښتیا د بدلولو لپاره هر څومره دروغ وویل شي، رښتیا نشي بدلولی.

انجینر محمد اسلم امید

❖ په مجلس کې پټه خوله ناست خلک ناپوه نه؛ بلکې ډېر اوري او لږ ویل کوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د ځینو جرات ښه او عقل یې کم وي.

انجینر محمداسلم امید

❖ کله کله په ځینو ځایونو کې تر علم او هنر، مهارت ته ډېره اړتیا وي، تر څو موخې ته ورسېږي.

انجینر محمداسلم امید

❖ په یو مجلس کې دومره خبرې مه کوه، چې د نورو خلکو وخت ونیسي؛ خو دومره چوپه خوله هم مه پاتې کېږه، چې په تا د یو تنبل انسان ګومان وشي.

انجینر محمداسلم امید

❖ تر هغې چې حقیقت نه وي معلوم، په شک او ګومان قضاوت مه کوي.

انجینر محمداسلم امید



❖ ځینې خلک خبرې ډېرې خو عمل کم کوي، خو ځینې نور بیا خبرې کمې او شخړې ډېرې کوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د نورو په خولو د یو چا په اړه داسې قضاوت مه کوئ، چې بیا ورسره مخامخ کېدلی نه شي.

انجینر محمداسلم امید

❖ له ستونزو مه وېرېږه، ځکه ستونزې دي، چې ستاسې وړتیا او حوصله لا پیاوړې کوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ خانته موخې وټاکئ، چې د نورو د موخو ښکار نه شې.

انجینر محمداسلم امید

❖ د هرې ورځې هره لحظه د ځان لپاره یوه اړینه موقع وګڼئ، ځکه بیا نه راستنېږي.

انجینر محمداسلم امید

❖ ځینو ته په کوچني موقف کې، ځان ډېر لوی سړی ښکاري.

انجینر محمداسلم امید

❖ یو څوک چې په دوه روپو نه ارزي او ته ترې د لسو روپو غوښتنه کوي، نو مانا یې دا چې په ځان رشخند وهې.

انجینر محمداسلم امید

❖ په ځینو خلکو دومره باور مه کوئ، چې سبا مو باور او اعتماد ته زیان ورسېږي.

انجینر محمداسلم امید

❖ د احمقانو په مجلس کې پټه خوله کېناستل هوښیارتیا ده.

انجینر محمداسلم امید

❖ کوچنیو خبرو پسې مه ګرځئ، ځکه کوچنۍ خبرې تاسې له لویو موخو او هدفونو پاتې کوي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ځینې خلک ځانته ړانده، خو نورو ته بینا وي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ځینې موسکاګانې تر زرګونو اوښکو زیاتې دردوونکې وي.

انجینر محمداسلم امید

❖ هیڅکله له یو چا څخه دومره هیله مه کوئ، چې د هغه له توانه پوره نه وي، ځکه په نه ترسره کولو سره یې ستا او د هغې ترمنځ فاصله ډېرېږي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د ورې ستونزې په قبلولو سره لویې موخې ته رسېدلی شئ.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د هغه څه وعده وکړئ، چې په ځان کې یې توان ګورئ.

انجینرمحمد اسلم امید

❖ زما مینه له ټولو هغه خبرو څخه پورته ده، چې ته یې په اړه فکر کوې.

انجینر محمد اسلم امید

❖ نیمګړې معلومات د خلکو ترمنځ ستونزې زیاتوي.

انجینر محمد اسلم امید



❖ هیڅکله په هغه لاره د تللو تکل مه کوئ، چې بیرته پرې د راتللو جرئت نشې کولای.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د مینې کیسه هغه چاته کول په کار وي، چې د مینې درد یې لیدلی وي او ستا په خبرو کې خپل انځور ګوري، داسې کسان سالمه مشوره درکولای شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هغوی سره، چې په زړه کې مینه لري، اړتیا نشته چې په خوله ورته بار بار اظهار وکړې.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د ستونزې پر وخت مایوسه کېدل په لوی لاس د موخې یا هدف د لاسه ورکول دي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هغوی چې په خپلو دندو کې صادق او لاس بری دی، هیڅکله له خپلې دندې شکایت نه کوي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ مثبت نظر او سالم انتقاد د اصلاح لپاره شرط دی، باید ومنل شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ارزیابي هغه وخت ګټوره تمامېدلی شي، چې امکاناتو ته په کتلو سره ترسره شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ په هر شخص باندې انتقاد باید د هغه د وړتیا مطابق وي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ځینې خلک دومره غرور رااخیستی وي، چې خپل سیوری یې هم له ځانه څخه غټ نه وي خوښ.

انجینر محمد اسلم امید

❖ په کور او اداره کې د خپل حاکمیت د ساتلو او شخصیت جوړولـــو لپاره د رازونو نزاکتونو او مهارتونو په نظر کې نیول اړین دي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ کله هم که د خپل حق په غوښتلو ونه توانېده او د بل په دې خبره دې ځان ته تسکین ورکړو، چې ته ښه سړی یې پوه شه چې دا ستا ښه سړیتوب نه، بلکې بې غیرتي ده.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د یو نېک ملګري دلاسه ورکول، په حقیقت کې زمونږ د ناکامی په مانا ده.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هره نېکه ښځه د یوې نېکې ټولنې رامنځته کوونکې ده.

انجینر محمد اسلم امید

❖ ځینې نقل له خوړلو وروسته معلومېږي، چې په منځ کې موجود بادام یې څومره تریخ دی.

انجینر محمد اسلم امید



❖ د ځینو مشرانو ګواښ او یا هم څپېړه د ښوونې په مانا وي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د هر کار د سر ته رسولو لپاره قوي ارادې ته اړتیا ده، چې په دې سره ډېر ناممکن کارونه ممکن کېدلی شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ وارخطایي او احساساتي کېدل داسې خصلتونه دي، چې ستاسې جوړ کارونه یې له امله خرابېدلی شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ د احترام له پولې تجاوز، د چاپلوسي په سرحد قدم ایښودل دي.

نجیب الله خیرخواه له واله

❖ ځینې غوسې داسې وي، چې مینه پکې لیدلی شي.

انجینر محمد اسلم امید

❖ هغه ځوانان چې په مثبتو فکرونو مثبتو موخو ته رسېدل غواړي، اصلا دوی د هېواد روښانه راتلونکی تضمینوي.

انجینر محمداسلم امید

❖ قوي اراده ستاسې هر ستونزمن کار اسانه کولای شي.

انجینر محمداسلم امید

❖ ستا یوه مثبته خبره زما د ژوند د تغییر سبب کېدلی شم.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ چې پوه شي یو شخص زما له خبرو څخه مطلب نشي اخیستی او زما په مثبت نظر یې سر نه خلاصېږي. د هغه شخص سره په خبره بحث او جنجال کول د خپل ځان توهین وګڼه.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ کله چې یوه موضوع واورې د عمل کولو څخه مخکې یې د تخلیل غلبېل ته ور واچوه.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ په ژوند کې ښه لاربښود خپل وجدان دی.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ د جاهل سره بحث نه؛ بلکې غلي پاتې کېدل هغه لپاره مرګ دی.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ د هر چا د پرېکړې تایید او منل د کمزورو خلکو کار دی.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ دا منم چې سړی باید په دوستۍ کې اساس نه وي، خو که د ځینو دوستانو سره اساس نه اوسې، نو ستا دا نه اساستوب ستا د بې قدرۍ لامل جوړېدای شې.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ د ځینو خلکو ملګرتیا په مثال د بادام د زړي وي، چې ترڅو یې خولې ته وانه چوې، په خوږوالي او تریخوالي یې نه پوهېږې.

ځارنوال محمدهارون ایوبي



❖ کوښښ مه کوه چې نور هم زما په زړه کې د ځان لپاره ځای پیدا کړي، ولې چې ستا ګرانښت زما په زړه کې د درجې اوج ته رسېدلې، نور نو ته ووایه نور به راباندې څومره ګران شې؟

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ ځینې خلک د ځینو حاصو مسایلو په پوهولو نه ارزي.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ زه به ستا هغه علم څه کړم، چې خلکو ته پکې خیر نه رسي.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ دا چې په موضوع درسره بحث نه کوي، مطلب یې دا نه دی، چې په څه نه پوهیږې.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ خپل یو احمقانه عمل او پرېکړې دي، د خپل کلي پرېښودو ته اړ کړي.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ مینه په مثال د شمعې ده، چې څومره یې رڼا ډېرېږي، هماغومره زیاته ویلې کېږي.

ځارنوال محمد هارون ایوبي

❖ دا چې زه ستا د شخصیت د نه خرابېدو له کبله تاته څه نه وایم، نو ته هم باید پوه شې.

ځارنوال محمدهارون ایوبي

❖ ديدن دې راته دومره مفيد دی، لکه څومره چې ځمکې ته باران وي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ زه د ويرې او ناکامې په نوم هيڅ شی نه پيژنم.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ نه غواړم چې زما په زړه کې ستا د مينې اندازه درته ښکاره کړم، ولې چې مغرور به شې.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ کار کم خبرې ډېرې، که غواړې چې مخکې لاړ شو او بدلون وکړو، نو ځينې کړنې بايد برعکس کړو.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ سالمه روزنه د يو منظم راتلونکي د رامنځته کېدو لامل گرځي.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ که ته خبر شې چې ستا په شتون مې زړه څومره د ارامی احساس کوي، نو هيڅ وخت به رانه لرې لاړ نشې.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ دلته واک د چارواکو د سلو کسانو په لاس کې دی، دوی به اخير مونږ په دې اور کې وسوځوي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ دنيا ناپوه خلک خوري او پوه خلک دنيا خوري.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ ستا په اړه خبره زما زړه ته سکون وربښي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي



❖ داسې نه وايم، چې په شتون دې خپه يم، خو د څه وخت لپاره مو بېلتون مهم دی.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ دې ځينو اشخاصو نه خو ځاروي هم ښه دي، نيغ په خپله لاره ځي او خپل کتار نه خرابوي او هيڅ د خپل قانون بې احترامي نه کوي.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ ستا د ژوند هره کاميابي زه د خپل ځان خوشبختي گڼم.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ که غواړې، چې موقف ترلاسه کړې، د ځان ته خير رسولو سره بل ته هم خير ورسوه.

ځارنوال محمد هارون ايوبي

❖ قوي زړه له ټولو ډېر دردونه او زخمونه لري.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

له واله

❖ له يو چا سره ستا د حده زياته مينه او اهميت کېدای شي، ستا د خپلې مينې او اهميت د کمېدو لامل شي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ ستا رنگين اواز زما زړه ته يو نااشنا سکون وربښي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ د هغه کمبخت به په خدمت کولو کولو زړه شين شي، خو دا خلک به پرې قانع نه شي.

ځارنوال محمدهارون ايوبي

❖ اوس خو لا ليسانس يې، چې دا کسبي استعداد دې تر ماسترۍ هم ورسېږي او ذاتي استعداد ونه لري. همداسې بې مانا شخص به يې.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ دا منم، چې علم لري او د همدې علم له برکته درته احترام هم لرم. خو دومره زيات اهميت ولې نه درکوم... ولې چې نه غواړم تاته په ډېر اهميت درکولو خپل اهميت له لاسه ورکړم.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ ته به د زړه سواندۍ له مخې ورسره کومک وکړې، خلکو ته به وايي، چې ومې غولولو.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ صحيح ده، چې علم ته دې په احترام قايل يم خو؛ دا احترام دې په دې مانا نه دی، چې هرې غلطې پرېکړې ته دې هم د هو سر وخوروم.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ افغاني فطرت هيڅکله ماتې نه مني.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ په دې ټولنه کې د انسانيت نه؛ بلکې د انسان قدر شتون لري.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ په دې مجازي دنيا کې سره يو له بله لرې يو، خو په حقيقي دنيا کې به تل يو له بل سره يو.

څارنوال محمدهارون ايوبي



❖ دا مهمه نه ده، چې هر شخص ته وپېژنې مهمه دا ده، چې هر شخص تا وپېژني.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ ځينې ملکونه نور په مثال د هغه بې پردې دروازې کور ته ورته شوي، چې پرده يې نه وي او له لرې يې هر څه ښکاره ليدلی شي.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ واده همېشه مينې ته د پای ټکی ايښی دی.

فسبوک

❖ چې ټول عمر دې د پرديو په منفي نقطو په نيوکو باندې تېر شو، کاش چې دې ددې پر ځای د ټولنې د بهبود لپاره يو مثبت گام ايښی وای.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ چې د يو چا استعداد منلی نه شې؛ نو د تشويق پر ځای يې توهينوه مه!.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ ځينې دردونه سړی بيانولی نه شي، خو په سينه کې زړه خوري.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ په نا اميدۍ سره ممکن گټلې لوبه له لاسه ورکړې.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ کوښښ وکړئ، چې پيسې ته نه؛ بلکې شخصيت ته اهميت ورکړئ.

څارنوال محمدهارون ايوبي

❖ د خپل هدف د ترلاسه کولو لپاره د یوې لارې نه: بلکې د مختلفو لارو داخل شه اخیر به یې ترلاسه کړې!.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ په ژوند کې ناکام شخص هغه دی، چې له وېرې نه ووېرېږي.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ په راتلو سره دې زما په ژوند کې کوم تغییر رانغی.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ د ژوند په هر پړاو کې به مې ستا مینه د کامیابۍ لور ته وړي، "مور".

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ ښه مطالعه، ښه اینده ده.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ هغه چاته نېک نظر ورکړه، چې د نظر قدر دې ورسره وي.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ انسان کلیمه چې د انس نه اخیستل شوې، چې مینې او محبت ځخه عبارت ده، نو ای انسانه! د انسان کارونه وکړه، چې انسان ښکاره شې.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ که هر څومره غټ سړی شم، ستا لپاره به همداسې یم، ولې چې نه غواړم ته د خپل ځان د کسي احساس وکړې.

څارنوال محمدهارون ایوبي



❖ اور دې پورې شي، په هغه استعداد چې د اظهار لپاره یې ستا له خولې جوړ هم نه وځي.

څارنوال محمدهارون ایوبي

❖ انسان هغه وخت کوچنی او محدود شي، کله چې متعصب شي.

څارنوال امید الله دانش

❖ مینتوب سړیتوب دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ غوره اخلاق نېکمرغي ده.

څارنوال امید الله دانش

❖ د ناپوه سړي په ناپوهۍ قناعت کول پوهه ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هغوی چې والدینو ته احترام نه لري، گویا بشریت ته احترام نه لري.

څارنوال امید الله دانش

❖ نزاکت د انسانیت نښه ده.

څارنوال امید الله دانش

❖ ناپوهي عیب ده.

څارنوال امید الله دانش

❖ چاپلوسي دروغو ته د حقیقت جامې ور اغوندي.

څارنوال امید الله دانش

❖ بښنه مهرباني ده.

څارنوال امید الله دانش

❖ ژړا د زړه سکون دی.

څارنوال امید الله دانش

❖ ستر انسان او ستره لیکنه. ستر انسان هغه دی، چې هیڅ دین، مذهب او عقیدې ته سپکاوی ونه کړي او ستره لیکنه هغه ده، چې هیڅ دین، مذهب او عقیدې ته په کې سپکاوی نه وي شوی.

څارنوال امید الله دانش

❖ که ښه انسان جوړېدل غواړې، نو ښه کتاب مطالعه کړه.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ځان وژنه کې قاتل او مقتول دواړه مري.

څارنوال امیدالله دانش

❖ دا چې په خیانت یې ګټو غوره ده، چې په صداقت یې وبایلو.

څارنوال امید الله دانش

❖ زر زرینې خبرې ولوله، یوه زرینه خبره ولیکه.

څارنوال امید الله دانش

❖ د واقیعت تر فکري غلامۍ، جسمي غلامي غوره ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ تر ټولو ښه ملګری پیسه ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ستر جهاد جهالت سره جهاد دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ادب د بشر زینت دی.

څارنوال امیدالله دانش



❖ درد هیڅ اتل نه لري.

څارنوال امید الله دانش

❖ دا زمونږ باور نه دی، چې مونږ ماتوي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ افسوس؛ د هغو خلکو په حال، چې ځانونه پلوري او د ځان څخه ارزانه شیان رانیسي.

څارنوال امید الله دانش

❖ انسانیت غوره سیاست دی.

څارنوال امید الله دانش

❖ ددې ټولنې نېکمرغي زما تر نېکمرغۍ څو چنده مهمه ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ مینه د هر انسان اړتیا ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هیڅا دومره مات نه کړم، لکه څومره چې باور مات کړم.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د انسانیت معیار انسانیت دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د ځمکې لاندې او د ځمکې پر مخ ټولې قیمتي دانې د یو نېک کار هومره ارزښت نه لري.

څارنوال امیدالله دانش

❖ پوهه خواک دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ماته تر قبرستان هم زیات د هغه خلکو سره ناسته خوند راکوي، کوم چې مرگ ورته یاد کې وي. نو ای بختورو انسانانو مرگ مه هېروئ.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ مرگ له ما وېره لري او زه د رب له حساب کتاب څخه.

ځارنوال امید الله دانش

❖ که غواړئ چې له نورو څخه ښه خبرې واورئ، نو له نورو سره ښه خبرې وکړئ.

ځارنوال امید الله دانش

❖ ژوند او مرگ د یوې سکې دوه مخه دي.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ څوک چې د مشورې په خبره غوسه کېږي هغه احمق وي.

ځارنوال امید الله دانش

- د سترو او زړه ورو انسانانو اخلاق د سفر پر مهال معلومېږي، ای د ښو اخلاقو انسانانو خپل ارزښت له لاسه مه ورکوئ.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ اتحاد ازادي ده.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ انسانیت عبادت دی.

ځارنوال امید الله دانش



❖ دا هم ومنئ چې د حقیقت او بصیرت په سترگو وگورو، نو دا بعضې به یوازې د لرې انسانان ښکاره شي، انسان څومره گلرنک دی انسان، څومره بدرنگ دی.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ قناعت ستره شتمني ده، چې دا شتمني په سترو انسانانو کې وي. قناعت کول د هر انسان کار دی.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ هو؛ دلته جگړه سوله ده، دلته خیانت خدمت دی، دلته بې گناه گناهگار دی، دلته شعار عمل دی او دلته مرگ ژوند دی.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ مونږ ټول په مینه کې ناپوه یو.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ خپل عیب پیدا کول هنر دی، خو اصلاح کول یې هنرمندي، لومړی هنر پیدا کړئ او بیا هنرمند شئ.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ د ښو نسبت ښه وي، تر هغه چې یو ښه سړی نه شې، یو ښه پلار نه شی کیدای او تر هغه چې یو ښه ښځه نه شې، یو ښه مور نه شې کیدی.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ ارزښت ماته تر بې احساسه ازاد انسان با احساسه غلام ارزښت لري، نو ای انسانه احساس ولره چې ارزښت پیدا کړې.

ځارنوال امیدالله دانش

❖ احترام هغه ژبه ده چې د هر انسان په خوله کې نه وي، نورو ته احترام کول د یو انسان ستر کمال دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ تر ټولو اصلاح او مناسب وګړي هغه دي، چې ولس ترې راضي وي، هېواد او هېوادوال یې پر اعمالو فخر وکړي، نو مناسب وګړی اوسه، چې تاریخ دې هېر نه کړي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ که د ژوند د خوږوالی په حقیقي مانا پوه شې، نو لېونی به شې.

څارنوال امیدالله دانش

❖ تر هغه نور کوونکی نشته څوک چې نه غواړي حقایق ووایې نشته یوازې حقیقت ووایه او کوونکی مه اوسه.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ترڅو پورې چې علمیت پیدا نه کړو عصریت نه شو پیدا کولې پرمختګ په پوه کې دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ کوم قام نه، چې صداقت، عدالت او انسانیت ورک شي، هغه قوم ورک شي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ که له انسانه مینه لرې شي، نو انسان بې مانا شی نو ای انسانه مینه وکړه چې مانا ته ورسیږي.

څارنوال امیدالله دانش

آریان پښتو کتابتون



❖ زمونږ د خوږېدو یو دلیل دا هم دی، چې تر خان لوړ او یا ټیټ شیان انتخابوو، لوړ ته رسېدل ستونزمن وي او ټیټ مو په قدر نه پوهېږي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ مطالعه کې ژوند دی، مطالعه مې روح، نو مطالعه کوم چې ژوندی پاتې شم.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ځینې کسان یوازې په ظاهر کې مشر وي، اما باطن کې ډېر کشر؛ انسانیت په اخلاقو کې دی، نه په عمر او وزن کې.

څارنوال امیدالله دانش

❖ خومره ښه شاعران دي دواړه مور او ژوند، مور ژوند دی او ژوند مور.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ماته تر هغه ښو خلکو بد خلک خوند راکوي، کوم چې ظاهر کې یو څه او باطن کې بل څه وي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ زه د ناپوه څخه نه بلکې د ناپوهی څخه یې کرکه لرم، د پوهانو ستره دنده د ناپوهی له منځه وړل دي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ پر بې مسوولیته ملت باندې بې مسوولیته مشران مشري کوي، ستر ملت با مسوولیته ملت وي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ انسان پېژندنه تر ټولو ستر هنر دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ځانګړې صفت یې بولم..!! تر دوست څخه زیات دښمن ته احترام لرم، تر موافق نظر زیات مخالف نظر ته، انسانیت انسانیت.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ما ویل ژوند څنګه تېرېږي؟ ویل یې: ښه تېرېږي، د ژوند نه ستړی یم. ما ویل افسوس چې ژوند هم له مونږ نه ستړی دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ جاهل په خپل جهالت وياړي او عالم په خپل علمیت، قناعت ورکول او یو بل پوهول نشته.

څارنوال امیدالله دانش

❖ صداقت او خیانت! زه ! د هغه انسان شرافت، شجاعت او صداقت ته حیران یم، چې ځان پلوري اما خیانت نه کوي او د هغه انسان خیانت ته حیران یم، چې د شرافت، شجاعت او صداقت چتر لاندې انسان پلوري.

څارنوال امیدالله دانش

❖ مونږ ته انسان او انسانیت ارزښت نه لري، که یې درلودلو، نو دومره په اسانۍ سره به مو نه وژل.

څارنوال امیدالله دانش

❖ عجیبه او عجیبه قانون دی، د ژوند د ځینو دوستانو نه شتون سرې زوروي او د ځینو دوستانو شتون.

څارنوال امیدالله دانش



❖ کومه ښکلا او زیبایي، چې په انسانیت کې شته، په ساده توب او رنګه توب کې نشته.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هو!! اوس تنهایی ته اړتیا لرم، ځکه کات نه؛ بلکې مات شومه، ای یوازېتوبه وعده وکړه، چې ته به مې یوازې نه پرېږدې.

څارنوال امیدالله دانش

❖ نور پوهول ستر هنر وي، خو دا هنر هر چا سره نه وي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ستر خلک تعصب نه؛ بلکې یوازې انسانیت پېژني.

څارنوال امیدالله دانش

❖ زما د ژوند تر ټولو ستره اشتباه زما بې ځایه اعتماد و.

څارنوال امیدالله دانش

❖ انسانه هغه وخت ذلیله کېږي، چې له نورو څخه تمه وکړي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هر بې اهمیت شخص ته اهمیت ورکول ستر حماقت دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ اوس په دې ښار کې انصاف نشته، عادل نشته، عدالت نشته، مینه نشته، ورورولي نشته، خوشالي ورکې دي، خوشبختي نشته، ښکلا نشته، سپرلی نشته، باد نه لري، باران نه اوري، خو ته راشه تاته اړ یو، ای انسانیته

څارنوال امیدالله دانش

❖ زما په ښار کې زما ښاریان له میني څخه زیات نفرت سره مینه لري.

خارنوال امیدالله دانش

❖ زما درد د هغه بې گناه خلکو مرگ دی، چې په خپله گناه نه پوهیږي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ د یو چا دومره توصیف مه کوه، چې هغه پرې توهین شي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ افسوس د هغه ولس په حال چې هر قام یې ولس وي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ مینه هغه سپېڅلې کلیمه ده، چې د سپېڅلې الله(جل جلاله) څخه شروع کېږي، مینه د انسان ژوند دی، مینه د ژوند دویم نوم دی، مینه د ژوند ښکلا ده، مینه د ژوند ارزښت دی، مینه هغه سپېڅلې اینه ده، چې انسان پکې خپله سپېڅلې څېره گوري، هغه څېره چې انسان په هغه کې خپل اصلي ښکلا ته رسي، نو کله چې دغه ښکلا انسان ته دننه شي، نو انسان لومړی د خان او بیا د خان شاوخوا وکړو، حقیقت ته رسي او په اصلیت سره یې پېژني، بس په مینه ژوند وکړي او هره ورځ مینه وکړي، نو د انسانیت لپاره ستره تحفه مینه ده.

خارنوال امیدالله دانش

t.me/AryanPashtoLibrary



❖ په هغه ټولنو کې چې هر وخت شپه او ورځ پکې خراقات روان وي او دلیلونه یې نمایشي وي، هغوی حقیقت نهویني او ړوند وي،ی نو هغه ټولنې د پرمختگ او ترقۍ وړانگې په سترگو نه شي لیدلی، له نړۍ څخه وروسته پاتې وي، بس په بدبختیو سره سر وي او په وحشت سره ژوند تېروي له خراقاتو سره مبارزه او حقیقت پیدا کول، ټولنې ته ستر خدمت دی.

خارنوال امیدالله دانش

❖ هغه دولتونه ظالم دي، چې لاسونه یې د مظلومانو په وینو رنگ وي، او کمزوري خلک د زورورو لپاره قرباني کوي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ افسوس د هغه ملت په حال! چې هغه جامې اغوندي چې دوی نه وي اوبدلي، هغه وسایل استعمالوي، چې دوی نه وي جوړ کړي او هغه خواړه خوري چې دوی پرې زحمت نه وي، ویستی.

خارنوال امیدالله دانش

❖ هغه ټولنې چې د فساد په ببهارۍ اخته وي، هلته صلاح ناکامېږي، ناامني زیاتېږي او د دولت مخالف ډلې قوې کېږي. فساد کې مو ښې نومرې واخیستې، نو ای فاسد فساده کله به تانه فارغ شو.

خارنوال امیدالله دانش

❖ ځینې وحشي انسانان یوازې او یوازې په انسان وژنو او انسان زورولو کې، د پوهنتونونو او مکتبونو په ورانولو کې، د جوماتونو او مدرسو په نړولو، د سرکونو او پلچکونو په ورانولو کې مهارت لري او بس... نو ډار د هغه کسانو څخه چې ظاهر کې انسان او باطن کې حیوان وي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د یو انسان ترټولو ستر کمال دا دی، چې خپل انسانیت ثابت کړي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د یو هېواد په نظام کې تر ټولو ستره، قوي او مهمه شعبه امنیت دی، چې د یو هېواد داخلي او خارجي دښمنانو ته ستر ګواښ وي، خو کله چې دغه ارګان فاسد او خاین شی نودی حالتو کې بیا دښمن د یو هېواد نظام ته ستر ګواخ شي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ که غواړې په زړونو حاکم شې، نو اخلاق پر ځان حاکم کړه.

څارنوال امیدالله دانش

❖ کم اصلو انسانانو ته په نړۍ کې هیڅ شی هم ارزښت نه لري، حتی انسان هم.

څارنوال امیدالله دانش

❖ پخوانۍ قضیه، دا رضالت پای نه مومي، د ظالم دښمن ظلم او د مظلوم ولس قرباني.

څارنوال امیدالله دانش

آریان پښتو کتابتون



❖ څوک چې خدمت نه شي کولی، نو خیانت ته ضرورت نشته. نېک کار دا دی، چې د یو نقاق اور مړ کړو، نه د چا اور ورته بل کړو.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هر انسان چې په خپله ناپوهۍ باندې پوه شي، ستره پوهه ده.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د نړۍ تر ټولو غمجن ترینه شخص هغه دی، چې د خپل ځان نه هم زیات دې نړۍ او د نړۍ خلکو ته ارزښت ورکوي، نورو انسانانو ته قدر خانته قدر، نورو ته قدر ورکړې چې د قدر وړ شي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ هغه ولسونه مړه دي، چې حاکمان یې خاینین شي، په هغه حالاتو کې دولت بې ثباته کېږي او سیاست یې کمزوری کېږي، اقتصاد یې ضعیفېږي، ناامني زیاتېږي، ظلمونه او قتلونه حد ته رسي او ولس له دولت څخه ناراضه کېږي.

څارنوال امیدالله دانش

❖ انسان په خپله پوهه انسان دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ ګناه رنځ دی.

څارنوال امیدالله دانش

❖ د یوې ټولنې سعادت او نېک بختي په ولس پالنه کې ده، نه قام پالنه کې.

څارنوال امیدالله دانش

❖ کله چې په یوه ټولنه کې فقر او بې وزلي حد ته ورسېږي، نو هلته دوه شیان زیات شي: یوه جنایت او بل فحشا....

خارنوال امیدالله دانش

❖ کله چې سیاسي فساد حد ته ورسېږي، حکومت مشروعیت له لاسه ورکړي، نو د دولت او ولس تر منځ واټن زیات شي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ خان پېژندنه لوی حکمت دی!

خارنوال امیدالله دانش

❖ داسې یوه خبره وکړه چې تر خاموشۍ غوره وي، که نه خاموشي غوره ده.

خارنوال امیدالله دانش

❖ قران کریم د اول نه تر اخر پورې د وحشت، دحشت، ترهګریت، بربریت او تروریست خلاف دی.

خارنوال امیدالله دانش

❖ د یو ولس یو غفلت ددې لامل شي، چې د یوې ټولنې او ممکلت سرنوشت په بله واړوي...

خارنوال امیدالله دانش

❖ صبر د خوشبختۍ مور ده.

خارنوال امیدالله دانش

❖ قلم برکت او پرمختګ دی.

خارنوال امیدالله دانش

❖

t.me/AryanPashtoLibrary



❖ د یوې ټولنې بې نظمي او بې وزلي دواړه د غلط سیاست زېږنده ده.

خارنوال امیدالله دانش

❖ خومره چې د یوې ټولني په عدالت او انصاب پرده غوړېدلې وي، هومره پکې جرم او جنایت زیات وي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ د خیانت او جنایت کینبتې تر ساحله نه رسېږي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ که څوک دې په احساس ونه پوهېدل، پروا نه کوي او وخانده په احساس پوهېدل د هر سړي کار نه دي.

خارنوال امیدالله دانش

❖ وخت د سرو زرو څخه هم قیمتي دی. چاته چې وخت ارزښت لري، هغوی ته ژوند ارزښت لري، مګر چاته چې وخت بې ارزښته وي، هغوی ته ژوند ارزښت نه لري.

خارنوال امیدالله دانش

❖ لمونځ روحي سکون دی.

خارنوال امیدالله دانش

❖ هغه ملتونه چې خپلواکي او اختیار ونه لري، نو قربانۍ ورکولو ته قسمت وایې..

خارنوال امیدالله دانش

❖ هغه چې ټول عمر راته صادقه او صابره پاتې شوه، مور وه.

خارنوال امیدالله دانش

❖ ښه فکر او ښې خبرې کوې، ځکه چې بدګوماني او بدزباني دوه داسې شیان دي، چې د انسان هر کمال په زوال بدلوي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د هغه چا هېر شوم، د چا لپاره چې مې ټوله دنیا هېره کړه.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ شکر چې شاعر یم، د زړه نیم درد د الفاظو په بیان کوم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ اوس چې ته د غرور پر غر ناست یې، دا ټوله پړه پر ما ده ځکه ما دې له حده وتلې ستاینه کوله.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ حقیقي عشق عبادت دی او عبادت لپاره د چا اجازات ته اړتیا نه وي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ که تاسې سره د خپل درد احساس وي، نو تاسې ژوندي یاستئ او که د نورو د درد درک ولرئ، نو غوره انسان یاستئ.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ شرافت څه عجیبه کلیمه ده، چې په کې شر او افت دواړه یو ځای شوي دي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ له کومې غېږې چې ما مینه زده کړې، تا له هماغې عاطفي غېږې څومره نفرت زده کړی.

استاد نوزاد الله ودیر



❖ هغه شخص چې له تاسره د زړه له تله مینه کوي، نو غوسه کېدل او خپګان یې د بې ساري مینې نښه ده.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ زما ژوند لکه یو بند کتاب، چې تر اوسه چا خلاص کړی نه دی، چا چې خلاص کړ هغه لوستی نه دی، چا چې ولوست هغه پرې پوه نه شو او څوک چې پرې پوه شو هغه مې خپل نه کړ.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ سترګې هغه وخت ښکلې وي چې اوښکې ولري، اوښکې هغه وخت ښکلې وي، چې په مینه کې وي، مینه هغه وخت ښکلې وې، چې له تاسره وي او ته هغه وخت ښکلی یې چې له ماسره یې.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ که غواړې چې یو چا سره تل پاتې اړیکې ولرې، نو کله ترې لرې اوسه.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ځینې تېروتنې انسان ته داسې درد ورکوي، چې له امله یې مقابل شخص وېښل شي، مګر د بیا ځل لپاره ورسره اړیکې جوړول ناممکن وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ له هغه خلکو ډېر ډارېږم، چې په ژبه یې شات او په زړه کې زهر ساتي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ژوند لپاره هغه څوک مه انتخابوه، چې ډېر ښکلی وي، بلکې هغه څوک انتخاب کړه چې ستا ژوند پرې ښکلی وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ته مې کیسه نه، بلکې حصه د ژوند یې.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ له تانه خو مې دښمن ډېر وفادار دی، تل راته وایې په هیڅ صورت دې نه پرېږدم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ زما زړه نه ستا وتل، لکه د بدن نه د روح وتل دي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د مور مینه، د ټولو مینو مور ده.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ د خینو اړیکو لپاره نوم نه وي، خو مقام یې لوړ وي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ زما ژوند لکه رباب، تل پکې ستا د ښلتون نغمې غږوم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د پاچا ظلم، د نورو ظلمونو پاچا وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ که د یو چا سره محبت کوې، نو د زړه یې وکړه، په ژبه نه او خېګان (نفرت)په لفظونو کې ساته په زړه کې نه.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه



❖ هغه خلک ډېر ژر بدلېږي، چا ته چې د اندازې زیات وخت او مینه ورکړل شي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ د خینو چوپتیاوو تر شا یو کتاب خبرې وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ کله چې مینه او نفرت دواړه له یو کس سره وي، د هغه شخص هېرول ډېر ګران وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ستر حقیقت دا دی، چې پرته د خپل ځان نه بل هیڅوک د چا نه خپلېږي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ځینې باور پسې ژاړي او ځینې خلک له باور کولو وروسته ژاړي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ په عمر او پیسو هیڅکله باور نه دی پکار، ځکه کوم شی چې شمېرل کېږي هغه پای هم لري.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ کاش چې ته زما په رګونو کې وینه وې، هره ورځ به مې ستا د لیدو لپاره د لاس رګ پرې کولو.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ په هغه چا دې الفاظ مه پخوه، چې له چا دې زده کړي وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ هغه چې یو چاته په زړه کې بدي ولري، تر هغې دا ډېره ښه ده چې ترې خپه واوسې.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ دوه ډوله خلک ډېر خوشبخته وي، لومړی هغه چې وفاداره ملگری ولري او بل هغه چې د مور دعا ورسره وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ کاش چې زه دې داسې غوښتی لکه د خان لپاره چې سکون غواړې.

استاد نوزاد الله ودیر

د اوسني عصر دنیوي مینه:

❖ مینه پرته له درده چاته څه نه ورکوي.

❖ مینه د رواني ناروغیو میکروب دی.

❖ مینه د بې خوبیو مور ده.

❖ مینه د اوښکو دریاب دی.

❖ مینه د بربادۍ انتها ده.

❖ مینه د ناکامۍ لاره ده.

❖ مینه د بې سوادۍ لامل دی.

❖ مینه د بې روزگارۍ زېږوونکې ده.

❖ مینه د غم دویم نوم دی.

❖ مینه د بې حیایۍ بنسټ دی.

❖ مینه د بې وفایۍ اصل دی.

❖ مینه د ایمان ضرر دی.

t.me/AryanPashtoLibrary



❖ مینه دښمني ده.

❖ مینه د بې باورۍ زېږنده ده.

❖ مینه د وحشت کور دی.

❖ مینه د نوښتونو خنډ دی.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ خینې وگړي په اعتماد نه، بلکې په احتیاط ارزي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ د هرې خوشالۍ پر مهال مې خیال ته راخې او خپه کوې مې.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ اعتماد له شپږو حروفو جوړه کوچنۍ کلیمه ده، چې لوستل یې ثانیه، فکر کول یې دقیقه، پوهېدل یې ورځ او په عمل کې ثابتول یې ټول ژوند غواړي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ مینه ارادې ته اړتیا نه لري، مینه یو کشف دی، یو الهام دی، یو داسې الهام چې په زړونو باندې نازلېږي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ کله چې انسان د خپلو غلطیو وکیل او د نورو د خطاوو قاضي شي، نو بیا فیصلې نه؛ بلکې فاصلې رامنځته کېږي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ ډېر لوست وگړي، نالوست دي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ د هغه چا قدر کوه، چې ستا د بد سلوکۍ باوجود بیا هم له تاسره مینه لري او ښه درسره کوي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ د ښښنې لپاره ښه انسان اوسه، خو د بیا اعتماد لپاره احمق مه جوړیږه.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ اړیکې د رزق په څېر وي، چې بد نیتي پکې راشي، نو برکت یې له منځه لاړ شي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ که زه دې ونه پوښتم، نو مغرور او که ته مې ونه پوښتې مصروف. ستا انصاف هم عجیبه دی.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د ډېرې بې انتهايي میني پایله مې، یوازېتوب او خاموشي شوه.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ خپګان له خاموشۍ، ګیلو او شکایتونو سل واري ښه وي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ اوښکې د انسان د کمزورتیا دلیل نشي کېدای، بلکې دا د هغه درد بیان دی، چې زغمل یې ستونزمن وي.

استاد نوزاد الله ودیر ژباړه

❖ حقیقي مینه عبادت دی او د عبادت لپاره د چا اجازت ته اړتیا نه وي.

ژباړه: استاد نوزاد الله ودیر



❖ شکر چې شاعر یم، د زړه نیم درد د الفاظو په بیان کموم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د ژوند په ارزښت هغه وخت پوه شوم، چې کله تاپسې مړ کېدم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ دا حقیقت دی، ومې منله:په ډېرو مین زړه، هیڅکله نه ګټل کېږي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ له تا مې ډېر څه زده کړل، اوس دې پوښتنه او خدمت کول، پر ما فرض دی؛ اوس ته مینه نه؛ بلکې ښوونکې یې.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ په کوم قوم کې چې د کتاب، قلم او د علم حکومت وي، هغه په نورو قومونو داسې حکمراني کوي، لکه انسان چې یې پر حیواناتو کوي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ نن رانه چا پوښتنه وکړه، ژوند څنګه تېرېږي؟ ما ورته د شونډو په وړه موسکا وویل:په ژوند کې (غم) دی، په غم کې (درد) دی، درد کې (مزه) ده او مزو کې زه یم.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ مثال ورکول اسان دي، خو مثال جوړېدل خورا ستونزمن دی.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ دا د لوخړو ډکه فضا، میده، میده باران، زما د سترګو خړ اسمان او ترمې اوښکې، ستا د نشتون درد مې نور هم ډېروي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د سهار د لمر څرک راته د خوښۍ زېرى راکوي او په شونډو مې د ارامۍ موسکا زېږوي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ کردار (سلوک) یو داسې کتاب دی، چې ړوند او جاهل یې؛ دواړه لوستی شي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د همدردۍ یو لفظ پر زرهاوو زخمونو د ملهم سبب کېدلی شي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ اوس خو د هغې په یاد کې اوښکه هم نه شم تویولې، یو وخت یې راته ویلي وه:ستا چې له سترګو اوښکه وځي، زما ساه وځي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ په بدو خبرو باندې غوسه راتلل د شرافت نښه ده، مګر د هماغه غوسې زغمل د مومن نښه ده.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ که د بې وفا لپاره ښېله دنیا وای، نو هلته به زما د یار سلطنت وو.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ غوسه همېشه یواځې راځي، مګر چې کله ځي، نو د انسان عقل، اخلاق او د شخصیت ښایست له ځانه سره وړي.

استاد نوزاد الله ودیر



❖ د نفس د پیاوړتیا لپاره دا ډېره ده، چې له هغه توکو ځان وژغورو کوم چې په نورو وکړو کې مونږ ته بد برېښي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د زمانې سره یو ځای تلل ښه خبره ده، مګر کوښښ په کار دی، چې ځان ددې خبرې قابل جوړ کړو، چې زمانه یا وخت له موږ سره د تګ په ملګرتیا ویاړ محسوس کړي او ویاړ راوښيي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ دعا، وفا، خوب، سکون، باور، محبت په څومره نومونو کې نغښتې یې، فقط یو ته!.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د دنیا تر ټولو عظیمه او ستره تحفه وخت دی، که چېرته تاسې ژوند کې یو چاته وخت ورکوئ، نو دا ستاسې د زنده ګۍ هغه لحظه ده، چې بیا نه راځي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ پرون مې د انسان په عظمت د یو څه لیکلو هوډ وکړ، قلم مې پورته کړ، ناګهانه په کوڅه کې شور او غوغا شوه، په هیبت سره له کوره ووتم، ګورم چې یو انسان پر بل انسان لکه د سپي د داړلو هڅه کوي، بس افسوس په دې خبره راغی، چې ترخنګ یې دوه سپي کرار په مینه او راحت سره په خوب ویده ول.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ په خیال کې ډېر طاقت وي، که چیرته د خیالاتو تهذاب صحیح وي، انسان د عقل تعمیر د ښکلا د بې ساري بېلګې سبب کېږي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د ژبې صحیح استعمال نېکبختي ده او د ژبې غلط استعمال بد بختي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ خدای ګواه دی، ډېر په مشکله لاس ته راځي، هغه زړه چې د مینې په ارزښت پوهېږي.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ خپل د ناکامیو احساس د کامیابۍ پر لور لومړی ګام دی.

استاد نوزاد الله ودیر

❖ د نړۍ ټولې لاسته راوړنې او د ژوند ټولې خوشالۍ، په پوره عقل او ازادۍ درلودلو پورې تړلې دي.

مجید ویسا

❖ کله چې مو د چا خوشالي یا غم نه وي درک کړی، مخکې ورته مه خاندئ او مه ورته ژاړئ.

مجید ویسا

❖ مینه! صبر غواړي، حوصله غواړي، فکر غواړي، هوښیاري غواړي، زړه غواړي او مینه مینه غواړي.

مجید ویسا

❖ مینه، وخت، پیسې په خپل او وړ ځای وکاروئ، ډېر څه به مو سم شي.

مجید ویسا



❖ مینه کول د لاندې لاملونو له مخې کېږي:

۱: ښایست

۲:پیسه

آریان پښتو کتابتون

۳:اخلاق

طاقت ایوبي

❖ موسکا کوونکی که کم عمره یا وړوکی وي، هم لوړ او لوی دی.

مجید ویسا

❖ هغه څوک چې نورو ته خندا او خوښي نشي ورکولی، له نورو دې هم ګیله او تمه نه کوي.

مجید ویسا

❖ ژوند په تدبیر کېږي، تدبیر په ښه فکر.

مجید ویسا

❖ هره کړنه او هر کار د فکر زېږنده ده، خپل فکرونه مو سم کړئ، چې هره کړنه او کار مو سم شي.

مجید ویسا

❖ هغه څوک چې د خندا وړ شیان نه وي، خو دوی پورې خاندي، هغوی ډېر بدرنګ خلک دي.

مجید ویسا

❖ هیڅکله د چا په خندا کولو یو کار مه پرېږدئ، په دنیا کې هیڅ داسې شی شتون نه لري، چې چا ور پورې خندلي نه وي.

مجید ویسا

❖ له ډېر کتاب لوستلو وېرېږو، چې مغز مو خطر کې نه کړي، بلکې د ډېر فسبوک کارولو هیڅ نه وېرېږو.

مجید ویسا

❖ د دنیا ډېرې خوشالۍ او د وجود غښتلتیا په پینځه وخته، لمانځه ادا کولو کې نغښتې دي.

مجید ویسا

❖ که غواړې چې ډېر خدمت وکړې نو ډېر خدمت ته کم خدمت وایې.

مجید ویسا

❖ په خینو پوښتنو کولو سره ښایي خانونه په لومو کې بند کړئ، خو په خینو پوښتنو کولو سره، بیا له لومو خانونه بچ کولای شئ.

مجید ویسا

❖ ډېرې دروازې داسې شته، چې هغه پرته له پوهې او ښو اخلاقو درلودلو نه شي پرانیستل کېدای.

مجید ویسا

❖ د انسان پټ استعدادونه په دوو ځایونو کې د گل د غوټۍ په شان غوړېږي، یو د نوي مثبت څه په لوستلو کې، بل د نویو خلکو نویو ښارونو او ځایونو په لیدلو کې.

مجید ویسا

❖ تر ټولو خواکمن او پهلوان هغه دی، چې د زړه خبره په زړه کې پټه ساتي.

مجید ویسا



❖ خان ته که ساده ویلی نشو، نو پوه هم باید خان ته ونه وایو.

مجید ویسا

❖ هر هغه څه چې انسان ذهن یې تصور کولای شي او باور کولای شي هغه ته رسېدلی شي.

مجید ویسا

❖ نیمه بریا ستونزه درک کول، نیمه بریا د ستونزې حل، نیمه جمع نیمه پوره بریا.

مجید ویسا

❖ ځیني وخت چې له ځینو ښو کسانو سره مخامخ شو، لومړی لیدنه ورسره وکړو، داسې انگېرو لکه نوې نړۍ مو چې پیدا کړې وي.

مجید ویسا

❖ د گران هېواد افغانستان سره دومره مینه لرم، که پوره یې ښکاره کړم افغانستان کې نه نړۍ کې به نوم ولیکم.

مجید ویسا

❖ د کوچني فکر لرونکی انسان، هیڅکله د پرمختگ مخ نه شي لیدلی.

مجید ویسا

❖ پرته له پوره درک کولو په هیچا باور مه کوئ.

مجید ویسا

❖ لوړ خلک د لوړو او مهمو شیانو په اړه فکر او خبرې کوي، خو ټیټ بیا خپل د پښو ځای گوري، حقیقتونه درواغ گڼي.

مجید ویسا

❖ بد عادتونه له بدو ملگرو او ښه عادتونه له ښو ملگرو زده کېږي.

مجید ویسا

❖ په ژوند کې په دوو شیانو کې ډېر پام په کار دی:

۱:ملگرتیا ۲:واده.

مجید ویسا

❖ د ژوند ښکلاگانو ته په بدرنگه سترگو کتونکی انسان، تر ټولو بدرنگ انسان دی.

مجیدویسا

❖ د ځینو خلکو د خبرو او عمل ترمنځ فاصله لکه اسمان او ځمکه سره لرې وي، د ځینو بیا دا فاصله لنډه وي.

مجید ویسا

❖ بدو خلکو نړیوال حقیقتونه تر پښو لاندې کړي دي او هغه څه حقیقت ته رسوي، چې ورته اړتیا نه لیدل کېږي.

مجید ویسا

❖ هیڅ انسان له هر څه نه پوره نه دی، هر انسان بېلې بېلې ځانگړنې لري.

مجید ویسا

❖ که د دنیا ټولې شتمنۍ او نور ډېر څه مې په لاس کې شي، خو چې قلم او کتاب ونه لري، هیڅ نه لرم.

مجید ویسا



❖ کاش چې په ژوند کې خوب نه وای، نیم عمر مو خوب خوري، خو خوب هم د ژوند لپاره اړین دی.

مجید ویسا

❖ ډېرو وگړو له دې امله چې حوصله یې له لاسه ورکړې ده، ډېر څه یې له لاسه ورکړي دي.

مجید ویسا

❖ کتاب مطالعه کول او بیا یې مطالعه پرېښودل داسې دي، لکه یخ جوړول او بیا یې د یخچال نه لرې کېښودل چې بیرته ویلې شي.

مجید ویسا

❖ منم چې له ځینو خلکو سره باید سیاسي چلند وشي.

مجید ویسا

❖ که فکر وکړو د انسان ژوند هم د شمعې په شان ویلې کېږي او ختمېږي.

مجید ویسا

❖ انسان که هر څومره ښکلی وي، خو چې زړه یې ښکلی نه وي بدرنگ دی.

مجید ویسا

❖ پرځای نیوکه پر یو چا کول د هغه لپاره درس دی، بې ځایه نیوکه په ځان ملنډې وهل دي.

مجید ویسا

❖ د نړۍ د ټولو تیارو لامل جهالت دی.

مجید ویسا

❖ اکثره خلک هغه چاته مينه ورکوي، چا چې ورسره مينه کړې ده او هغه څوک چې چاته يې مينه نه ده ورکړې، بې مينې پاتې دي.

مجيد ويسا

❖ که يو پاچا يا مشر شل زره مزدوران هم ولري، ځينې کارونه داسې وي چې بايد په خپله يې ترسره کړي.

مجيد ويسا

❖ ژوند يوه لوبه ده يا به يې ګټې او يا به يې بايلې.

مجيد ويسا

❖ اولاد ته د مور او پلار مينه دومره لازمه ده، لکه نيالګي ته اوبه.

مجيد ويسا

❖ کتابه! تر څو چې ژوندی وم له لاسه دې نه لرې کوم، دا مې تاسره وعده ده.

مجيد ويسا

❖ که وخت او حالاتو مجبور کړم وچه ډوډۍ به خورم، له ټوټو څخه جوړې شوې جامې به اغوندم، خو په خپلو اولادونو به زده کړې پوره کوم. که د زړه مې وينې ځاځې خپلو اولادونو ته به موسکا کوم.

مجيد ويسا

❖ مونږ او تاسې هغه خلک يوو، چې له ماشوتوبه خبرېږو خوانان شوي يوو، چې له ځوانۍ خبرېږو زاړه شوي يوو.

مجيد ويسا



❖ که پرته له يو ذات چاته سجده عار نه ګڼل کېدای، ډېرو چاپلوسانو به مجازي واکدارانو ته سجده کړې وای.

عمران اشنا

❖ نه شتون دې د دنيا په ډېرو شتو، بې باوره کړم!

عمران اشنا

❖ اول د ځان اصلاح ښه ده؛ په خپله غلطه املا په بل چا نيوکه کول، په ځان ملنډې وهل دي.

عمران اشنا

❖ داخل جګړه په داسې وخت کې شدت اخلي، چې سولې ته د هر کلي په درشل کې يو.

عمران اشنا

❖ د نن وخت خلکو ته ډېر ارزښت ورکول، خپل ارزښت ورک ول دي.

عمران اشنا

❖ سياسون او سياست د وخت تابع دي او هر وخت يې د بدلېدو امکان شته.

عمران اشنا

❖ د نن خبره د انسان پېژندنه په اصل کې سيرت مطالعه کېږي، نه صورت.

عمران اشنا

❖ هغوی چې په ستاينه کې افراط نه کوي، د ژوند په هره برخه کې د مساواتو اصل په نظر کې نيسي.

عمران اشنا

❖ غوره اشخاص، په خپلو تېروتنو ټينګار نه کوي.

عمران اشنا

❖ د انسان ټوله ښکلا په روح کې نغښتې ده، کله چې روح د جسد سره اړيکې پرې کړي؛ د ښکلا وروستی منزل تورې خاورې شي، نو د ښکلا او انسانيت په قدر پوه شئ، د انسان له مرګ وروسته تورې خاورې ښکلول بې ګټې دي.

عمران اشنا

❖ تعصبګر مو تل د ستاينې پر ځای غندنه کوي، هڅه وکړئ د ژوند په ټولو خواوو کې مخالفين ولرئ، ستاسې مخالفين به ستاسې د کاري خواک د پیاوړتيا لامل شي.

عمران اشنا

❖ يوازېنې څه چې په تقسيمولو زياتېږي، خوښي ده.

عمران اشنا

❖ او نن مې تجربه کړه د ښيښې ماتول هيڅ هنر ته اړتيا نه لري، خو په اصلي ښه رغول يې يو داسې هنر دی، چې تر دې دمه په نړۍ کې شته انسانان پرې نه دي توانېدلي.

عمران اشنا

❖ او ته هم لکه د ورځې رڼا وې، چې کله د ماښام تياره شوه، زه دې تنها پرېښودم.

عمران اشنا



❖ لوستی مې و: د ښلا ښلو متنونو لوستل په ذهن کې د ويونو او اصطلاحاتو د زېرمه کولو لپاره لار پرانېزي. که غواړئ، چې غوره ليکوالان شئ، ليکنې وړتيا مو وازمايئ او دا کار هره ورځ تکرار ته اړتيا لري.

عمران اشنا

❖ څوک چې د يو چا په کار يا کوم عمل نقد کوي، خپله بايد پوره باوري وي، چې زه ورته عمل په هيڅ سبب نه کوم، دلته نقد کوونکي ډېر شته خو د عمل کوونکو څرک هم نشته.

عمران اشنا

❖ مونږ دوه شيان ډېر لرو:

۱:په رسمياتو کې رخصت.

۲:په نظام کې جنرالان.

آريان پښتو کتابتون

عمران اشنا

❖ ځينو خلکو سره بحث کول د وخت ضايع کول دي، علمي دلايل او معقول ځوابونه علمي پانګونه زياتوي، خو که پوه شوئ چې مقابل لوری مو خپتالوژي غږوي، د هغه خايه پښې سپکوئ..!!

عمران اشنا

❖ په جګړه کې ناکام اشخاص ممکن ډېر ژر ځانونه برياوو ته ورسوي، خو په مينه کې ناکام ډېر کم وګړي، د ژوند لومړني حالت ته راګرځېدلي.

عمران اشنا

❖ زمونږ تعلمي سويه لوړه، خو اخلاقي سويې ته مو هيڅ پام نشته.

عمران اشنا

❖ پښتانه هغه قوم دی، چې هم خپلې ستاينې ته چکچکې وهي او هم خپلې غندنې ته.

عمران اشنا

❖ د دري ژبې يوه اصطلاح ده: هر نقطه مکان دارد؛ مانا دا چې هره خبره د وخت او ځای سره مناسبه پکار ده؛ ادب د ژوند فلسفه او د بدلون وسيله ده! که ورځني ژوند ته يو لنډه کتنه وکړو، هيڅوک داسې نشته چې د غم په وخت کې خندا او د خوښۍ وخت کې ژړا وکړي.

عمران اشنا

❖ يادونه هم ژوند سره عجيبه اړيکې لري؛ نه هېرېږي او نه تکرارېږي.

عمران اشنا

❖ خپل ځان د نورو په څېره کې ليدل، د ځان د اصلاح لپاره ښه لار ده.

عمران اشنا

❖ لوستی مې دي: پوهه په ډېرو کتابونو کې هم نه ده پرته، بلکې د ژوند هر اړخ د علمي تجربو لرونکی وي.

عمران اشنا

❖ هر څنډ د انساني ژوند د بدلون لپاره يو چانس وي.

عمران اشنا



❖ کله چې نه شې کولای خپل کارونه سم پرمخ بوځې: باور ولرئ، چې په ژوند کې هر بدلون ستاسو د ښېګڼو لپاره رامنځته کېږي.

عمران اشنا

❖ کتاب:زمونږ او ستاسې همېشنی ملګری دی، ښه ساتل يې زمونږ د ټولو وظيفه ده.

ژباړه:عمران اشنا

❖ جاهل انسان د ډوهل په څېر دی، غږ يې ډېر، منځ يې تش.

عمران اشنا

❖ اوسپنه هم ذاتي خواص لري، تجربه يې کړئ، اصلي اوسپنه هيڅکله رنګ نه بدلوي، خو کم اصله اوسپنه د وخت په تېرېدو سره رنګ اړوي. ذاتي خواص د انسانانو د پېژندنې په اصل کې ځانګړنه ده، هڅه وکړئ ښه ملګری غوره کړئ او د بدو له ملګرتيا ځانونه وژغورئ!

عمران اشنا

❖ کتاب د ژوند ښه ملګری دی، کتابونه ولولئ او خپله علمي پانګه زياته کړئ!

عمران اشنا

❖ د داسې خلکو په منځ کې د اوسېدلو کوشش کوه، چې غواړي تا خوشاله ووينې.

ژباړه:عمران اشنا

❖ او دلته تر ټولو غټه ستونزه همدا ده، که حقيقت وايې، د ډېرو ډېرو کيسو سره به مخ شې او د ډېرو بدو نومونو خاوند به شې.

عمران اشنا

❖ له وړوکوالي مې د مرغانو اوازونه خوښېږي. ځکه سهار مهال کې يې ترنم غږونه زړه خوشالوي او اروا ورسره تازه وي.

ډېر مې زړه کېږي، چې په کور کې يې وساتم؛ خو باور وکړئ ددې له امله يې نه ساتم، چې د ازادۍ له حقه به محروم شي.

اخخخخ هغوی چې انسانان د تورو خاورو بنديانوي، زړونه به يې د کانو وي.

استاد عبدالبصير سباوون

❖ تر ټولو لويه ملامتي، د ضمير ملامتي ده؛ خو اوس دا حساب او کتاب څوک له ځانه سره نه کوي، نو ځکه اوس هر سړی ځان پړ ګڼي او د پړي ګوته بل ته نيسي.

استاد عبدالبصير سباوون

❖ ځينې خلک له لويې شتمنۍ سره سره بيا هم ډېر غريب او بې وزله وي.

استاد عبدالبصير سباوون

❖ نن سبا هلکان په دې مصروف دي، چې دا معلومه کړي، که هلک نه وم، نو څنګه به ښکارېدم.

استاد عبدالبصير سباوون

❖ يو شمېر مشران هغه وخت ولس ته مراجعه کوي، چې له واکه ګوښه شي او يا د واک خوبونه ګوري.

استاد عبدالبصير سباوون



❖ افغاني سياست وال: ځينې وايي مونږ غره ته خېژو او ځينې وايي مونږ له غره راښکته کېږو.

بس ټول عمر او فکر يې غره ته په پورته کېدو او ښکته کېدو کې تېر شو.

استاد عبدالبصير سباوون

t.me/AryanPashtoLibrary

❖ نيوکه وکړئ، خو د نيوکې په نامه کنځل او توهين مه کوئ.

استاد عبدالبصير سباوون

❖ په ټولنيزو او سياسي حرکتونو کې يو شمېر خلک کار کم کوي، خو خبرې، ګيلې او جنجال زيات.

دوی ته لومړی د قناعت ورکولو هڅه وکړئ او يا ورڅخه خان څنګ ته کړئ، کنه ټول وخت به مو په تشو خبرو، ګيلو و جنجال تېر شي، نه به رغنيز او نه د کار په پرمختګ.

استادعبدالبصير سباوون

❖ يو شمېر اشخاص خپله هيڅ کار نه کوي، هغوی چې کار کوي، بيا يې په رياکارۍ متهم کوي، دا د کار او د پرمختګ دښمنان دي. بس کار کوي او مخ ته ځي او هيڅ ارزښت مه ورکوئ.

استادعبدالبصير سباوون

❖ د ملتونو د بقا او بېرازۍ اساسي لارې د علمي بنسټونو رغونه او پالنه ده.

هوښیار مشران هغه دي، د خپلو خلکو د هوښیارتیا او ویښتیا په هیله په هر حالت کې د دوی ملاتړي او پالونکي وي.

مونږ هم په اوسنیو سختو شرایطو کې د نېکمرغۍ ساه په دې هیله اخلو، چې د همدغسې خواخوږو او علمپروره شخصیتونو له شتون خپلو علمي ارمانونو ته د رسېدا ډیوې بلوو.

استادعبدالبصیر سباوون

❖ سیاسي مخالفتونه د نړۍ په ټولو ملتونو کې شته، خو دومره یې نه پالي چې خپل ځانونه پرې د بربادۍ گړنگ ته برابر کړي، لکه موږ چې پرې ځان برباد کړ.

استاد عبدالبصیرسباوون

❖ د نېکبخته ولسونو سیاستوال او پانگوال شعوري او فکري خلک وي، دوی بیا د خپلې گټې ترڅنگ ملي او ولسي گټو ته ډېره پاملرنه کوي.

استاد عبدالبصیر سباوون

❖ په سهوه کې ترې ډوډۍ ولوېده، د گناه احساس به یې وکړ، ژر به یې راپورته کړه او ښکل به یې کړه. سر له تنې جلا کړي، په لغته یې ووهي او ترې روان شي. دا پر موږ څه وشول؟ دا کومه خوا یې روان کړي یوو؟ چېرته به ځو؟

استاد عبدالبصیر سباوون



❖ ځینې خلک په ملگرتیا او د نورو کارونو په ترسراوي کې له صداقت او رښتینولۍ څخه خوند اخلي او ځینې یې له منافقت او ټگۍ څخه. انسان څومره بدرنگ دی، انسان څومره ښایسته دی.

استادعبدالبصیر سباوون

❖ ځینې خلک د ډوډۍ د هضمولو لپاره منډې وهي او ځینې یې پیداکولو لپاره سرگردانه وي.

استادعبدالبصیر سباوون

❖ ځینې خلک د خاکسارۍ او عاجزۍ له خونده او ځینې خلک د کبر او غرور له زیانه نه دي خبر، که ځان خبر کړي، نو خاکساري به غوره کړي او له غروره به کرکه وکړي.

استاد عبدالبصیر سباوون

❖ له ښه سړیتوبه بده استفاده مه کوه.

عزت الله ځواب

❖ ځینې خلک له ځانه مشران دي.

عزت الله ځواب

❖ تجربه د انسان شتمني ده.

عزت الله ځواب

❖ احساساتي یم، شکر چې بې احساسه نه یم.

عزت الله ځواب

❖ وخت هر څوک درپېژني.

عزت الله ځواب

❖ ځینې مشران د پړ او ملامت پرځای سلامت ته گوته ونیسي او نصیحتونه چالان کړي.

عزت الله خواب

❖ د ځینو خوله خوله نه ده، یانې په ژبه ولاړ خلک نه دي.

عزت الله خواب

❖ ارزښت په پیسو نه محاسبه کېږي.

عزت الله خواب

❖ چې د نجونو د زده کړې مخه نیسي، مور ته احترام نه لري.

عزت الله خواب

❖ ژوند دومره نه دی، چې سرې دې پکې چاته چاپلوسي وکړي.

عزت الله خواب

❖ ځینو خلکو نه چې پیسې لرې کړې، سړیتوب پکې نه پاتې کېږي.

عزت الله خواب

❖ ځینې گرمول کوي او ځینې جنگول.

عزت الله خواب

❖ ستا فکر، ستا برخلیک دی.

عزت الله خواب

❖ بې غیرتو ملگرو نه یو وار نصوار ښه دی.

عزت الله خواب

❖ د خپل کلي غل درته اتل ښکاري او د بل بوتل.

عزت الله خواب



❖ مطالعه د استدلال قوه پیاوړې کوي.

عزت الله خواب

❖ ښه رئیس او ښه خوانې د خوش قسمته خلکو په برخه وي.

سعادالله فطرت

❖ ځینې خلک امتحان ته څلور یا پینځه قلمونه له ځانه سره راوړي، خو که تا ترې یو دانه قلم وغوښته، نو خوله به داسې ورانه کړي، ته به وایې پښتورگي دې ترې غوښتي.

سعاد الله فطرت

❖ د مینې وي که د زور او که د خوښې دوه درې کاله وروسته د ټولو ودونو نتیجه یو ډول وي.

سعادالله فطرت

❖ هغوی چې موږ ته خپلواکې گټلې، باور یې درلود چې د خوشالۍ راز په ازادۍ کې دي او د ازادۍ راز په شجاعت او مېړانه کې.

استاد روښان پوپلزی

❖ اتل (قهرمان) هغه شخص دی، چې زما د هېواد د یتیمو بچو پر وچو شونډو موسکا راولي.

استاد روښان پوپلزی

❖ دا مې ډېر بد عادت دی، چې د خپل خپگان په بیه نور خوشالوم.

استاد روښان پوپلزی

❖ چې کله هم کتاب په لاس کې واخلم غم، تشویش، پرېشاني او خپګان رانه هېر شي، شاید دا مې له کتاب سره د ډېرې ژورې اړیکې له امله وي.

استاد روښان پوپلزی

❖ په نننۍ عصر کې د هېوادونو خپلواکي د رسنیو د استقلالیت څخه معلومېږي، که د یو هېواد رسنۍ ازاد وې، نو هېواد هم خپلواک دی او که رسنۍ یې خپلواکې نه وې، بیا نو دغه هېواد هم خپلواک نه دی.

استاد روښان پوپلزی

❖ زمونږ د قومونو ترمنځ پراخه کرکه او نفرتونه موجود دي، بس اظهار ته یې صرف یوه وړه بانه په کار ده.

استاد روښان پوپلزی

❖ بشر پالنه لوی زړه غواړي له نورو مرسته او همکارۍ پیسې، نه بلکې جرائت ته اړتیا لري.

استاد روښان پوپلزی

❖ ترڅو چې د نظام له داخل څخه خاینانو او جاسوسان له منځه لاړ نه شي، دا بدبختي به رواني وي.

استاد ورښان

پوپلزی

❖ زمونږ د پارلمان، ځینو وکیلانو نه د کابل ښار د ټکسي چلوونکو پوهه او سیاسي بصیرت زیات دی.

استاد روښان پوپلزی



❖ دروغجن ملګري سیوري ته ورته وي، کله چې روښنايي کې قدم اخلو، مونږ ته نږدې کېږي؛ خو، کله چې تیارې ته داخل شو، له ټولو څخه وړاندې مو پرېږدي.

استاد روښان پوپلزی

❖ د قهرمان زېږولو ماشینونه خو له نورو قومونو سره دي او د خاین (جاسوس) زېږولو ماشین له پښتون سره. جالبه نه ده! دوی د هر قاتل، قطاع الطریق، غل، جانی... ملي قهرمان او زما رهبر ملي خاین.

استاد روښان پوپلزی

❖ ژوند د ژمي هغه سړې شپې ته ورته دی، چې انسان د ځان د ګرمولو لپاره اور ونه لري.

سینوهه

❖ خدایه څه کېده، چې نفرت دې نه وي پیداکړی؟!

استاد روښان پوپلزی

❖ لمسی:

بابا تاسې له فسبوک، واټس اپ، وایبر، سکایپ، ای ایم او، ګوګل پلس او ... څخه پرته څنګه ژوند کاوه؟

بابا:

زما ګرانه لمسیه! لکه نن چې تاسې له اخلاق، شجاعت، دقت، مروت، مینې، وفا او... څخه پرته ژوند کوئ.

همدا مو د ژوند حقیقت دی!

استاد روښان پوپلزی

❖ هو، مونږ دواړه محروم یو! هغه ښار ته له راتګ او زه کلي ته ورتګ څخه.

استاد روښان پوپلزی

❖ لکه څنګه چې د یو تولید بد صفت د هماغه تولید، د ښه صفت په نسبت درې چنده ژر خپرېږي، همداسې د یو انسان د شخصیت منفي اړخ د انسان د شخصیت له مثبت اړخ څخه درې چنده ژر خپرېږي.

استاد روښان پوپلزی

❖ ملي قهرمان هغه چاته وایې چې خپل هېواد یې له بهرني ښکېلاک څخه خلاص کړی وي او هېواد د خپلواکۍ لپاره هلې ځلې کړې وي. او یا هم په نړۍ کې د خپل هېواد د نوم د ځلونې په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې وي.

استاد روښان پوپلزی

❖ دلته که غواړې په سکون کې ژوند وکړې، له میډیا نه ځان لرې وساته.

استاد روښان پوپلزی

❖ ویښ ولسونه پر خپل اوسني حال ویاړي او ویده ولسونه پر خپل ماضي تاریخ.

استاد روښان پوپلزی



❖ چې دا خو به چاپلوسي نه وي؟!! دلته غونډو کې د ویناوالو تحسین او تشویق د وینا پر مهال د هغوی د موقف پر اساس کېږي. که چېرې د ویناوال موقف جګ وي، ډېر تشویق او تحسینېږي او که یې موقف ټیټ وي بیا تشویق او تحسین یې کمرنګه وي، ولو که ډېره ښه وینا هم وکړي.

استاد روښان پوپلزی

❖ له مثبتو خلکو سره ناسته، مثبت فکر ایجادوي او مثبت فکر مو په ژوند کې مثبت بدلون راوړي.

استاد روښان پوپلزی

❖ زه باور لرم چې ناپوهي، وېره او منفعت طلبي هغه درې عوامل دي، چې انسان د جنایاتونو، مفاسدو، انحرافاتو، رذایلو او نورو بدو کارونو خواته سوق کوي او توحید دغه درې واړه عوامل له منځه وړي.

استاد روښان پوپلزی

❖ د ډېر غم او ډېرې خوشالۍ ترمنځ دوه د مشابهت ټکي شته:

۱. په دواړو حالتونو کې دې خوب له سترګو تښتي.

۲. په دواړو حالتونو کې دې له سترګو اوښکې څاڅي.

استاد روښان پوپلزی

❖ هر کله چې اخلاقي قواعد پر قانوني قواعدو معتبر وګڼل شي او د اخلاقي قواعدو اجرایوي ضمانت د قانوني قواعدو تر اجرایوي ضمانت لوړ شي، پوه شه چې ټولنه اصلاح شوې ده، یانې کله چې اخلاق د قانون نه متعبر شي، ټولنه خود په خوده اصلاح کېږي.

استاد روښان پوپلزی

❖ دلته تعصب او تعصب ته لمن وهل دواړه، د شخصي منافعو لپاره کېږي.

استاد روښان پوپلزی

❖ پر کمزوریو اعتراف، انسانان پیاوړي کوي.

استاد روښان پوپلزی

❖ زمونږ حافظې ډېرې کمزورې دي او موږ ډېر خوش باور یو، هر چا چې هر څه وویل پرته له څېړنې یې منو.

استاد روښان پوپلزی

❖ که په ملت کې خپور شوی نفرت او وحشت له منځه ولاړ نه شي، پینځه کاله وروسته به افغانان یو بل وخوري.

استاد روښان پوپلزی

❖ په اوسني عصر کې د نړیوالو قوانینو برخلیک هم د افغانستان د قوانینو د برخلیک په څېر دی، په افغانستان کې په ډېرو مواردو کې قانون پر بې وزله، غریب، بېچاره او هغه اشخاصو تطبیقېږي، چې د واکمنو ډلو سره تړاو نه لري، په نړیواله ټولنه کې هم نړیوال قوانین یوازې په هغه هېوادونو تطبیقېږي، چې وروسته پاتې دي او یا د



زبرخواکونو هېوادونو ملاتړ د خانه سره ونه لري او دا د دواړو قوانینو ترمنځ ګډ ټکی دی.

استاد روښان پوپلیزی

❖ صنعت او تکنالوژي، مو ژوند بې خونده کړي.

استاد روښان پوپلزی

❖ د دولت اردو او پولیس ووژني، مکتبونه وسوځوي، ودانۍ ورانې کړي، بیا د تداوۍ او درملنې لپاره خپل ماشومان د همدې دولت روغتون او د دولت په پیسو روزل شوي ډاکتر ته بیایي.

استاد روښان پوپلزی

❖ که چېرته د افغانستان د ابادۍ لپاره یوه خښته پر بله نشي اېښودی، د ورانۍ لپاره یې هم یوه خښته له بله مه ښلوئ. که د فساد پر وړاندې مبارزه نشي کولای، پخپله فساد مه کوئ، که چا سره ښه نشي کولای، نو بد هم مه کوئ.

استاد روښان پوپلزی

❖ ملګرو ته قرض ورکول او نه ورکول دواړه ګران کار دی. که ملګري ته قرض نه ورکوې، هغه خپه کېږي. که دې قرض ورکړو ته پخپله خپه کېږې، ځکه هغوی یې په خپله خوښه نه درسپاري او ته یې ترې غوښتی نشې.

استاد روښان پوپلزی

❖ دا څوک چې وایې واسطه نه منم، والله چې هر وخت یې هم منلې.

استاد روښان پوپلزی

❖ عجیبه خلک: چې د امتیاز خبره شي اسلام مخ ته کړي. مګر بیا د اسلام خلاف د مړو نمانځل کوي.

استاد فهیم رحیمي

❖ ځیني چې کومه خواري د مخ او کالیو په ښایسته کولو کوي، که دغه خواري لږه د خپلو بدرنګو ذهنونو په ښایسته کولو وکړي، باور لرمه چې ټول به له یوې مخې ښایسته ښکارېږو.

استاد فهیم رحیمي

❖ انجونو ته کور کې تل ویل کېږي؛ لږ دروند خوی کوه؛ سبا د بل کور ته ځې؛ خو، کاش مو هلکان هم پوهولي چې ښه خوی کوه، سبا دې بل څوک کور ته راځي.

استاد فهیم رحیمي

❖ دیموکراسي کې د اقلیت او اکثریت په رایو معلومېږي.

استاد فهیم رحیمي

❖ یو وخت به د کارمندۍ اعلان داسې وي، یو لېسانس درلودونکي ته اړتیا ده، خو چې باسواده وي.

استاد فهیم رحیمي

❖ ځینو خلکو ته مینه او انسانیت ښودل، لوی جهاد دی!

استاد فهیم رحیمي

❖ کله چې مقابل لوری تاسې ته قصدا دروغ خبره کوي، نو دا په دې مانا چې ستاسې له خوا د حسن نیت، ښه او رښتینې چلند چانس له لاسه ورکوي.

استاد فهیم رحیمي



❖ واړه خلک چې دا غټې خبرې کوي، غواړي ځان مطرح کړي، داسې خلکو ته شخصیت مه ورکوي.

استاد فهیم رحیمي

❖ د خوشالۍ تمه: د هغه هېوادونو وګړي دي، د خوشالۍ تمه نه کوي، په کومو کې چې د شخصیت معیار زور، کوټکهاري او د ډېرو پیسو درلودل وي.

ډاکټر عبدالله روان نومیالی

❖ کله چې یهود غواړي یو وروسته پاتې مملکت په دوامداره ډول د خپل تاثیر لاندې او غلام وساتي، نو په هغه کې: بېسواده، قاچاقبر، کوټکهار، فاسد، غله او د وطن او ولس سوداګر خلک تمویلوي او قدرت ته یې رسوي.

ډاکټر عبدالله روان نومیالی

❖ که یو مشر د احتمالي خطر له وېرې د قانون له تطبیق څخه ډډه وکړي، نو د اوږد وخت لپاره به ځان او ولس د خطرناکو ستونزو سره مخ کړي.

ډاکټر عبدالله روان نومیالی

❖ دا چې د عمرې کول هم وي رقابتي او رواجي شکل ځانته غوره کوي، په ځانګړي ډول په هغو پیسه لرونکو کې چې په خپل کور، کوڅه او کلي کې بې وزله، وږي، یتیمان، کونډې، مجبوره او بې چاره خلک نشي لیدلی. د دوی په مالدارۍ افسوس په کار دی.

ډاکټر عبدالله روان نومیالی

❖ په ځنګل کې د کمزورو ژوند ډاډمن او خوشاله نه وي، ځکه ګواښ سره مخ وي، چې قانون پکې د زورورو په خوښه تعبیرېږي یانې قانون یې د زورورو خوښه او اراده وي.

ډاکتر عبدالله روان نومیالی له واله

❖ جاسوسان:په هغه ملکونو کې چې مافیا موجوده وي، نو د پردیو جاسوسان پکې ډېر ژر وده کوي، چې خینې یې سیاسي څېرې، خینې یې د ګوندونو او ډلو د مشرانو مخورو او خینې نور یې بیا د لوړ پوړو چارواکو په شکل راڅرګندېږي. هلاک دې وي جاسوسان چې په هر نوم او شکل وي.

ډاکتر عبدالله روان نومیالی

❖ د جاسوسو څېرو یوه نښه دا وي، چې په ملي کچه خان نشي مطرح کولی، نو خلک د قومي او ژبني تعصباتو په اساس په خان ګرموي او غول خلک هغه دي، چې د دوی ملاتړ کوي.

ډاکتر عبدالله روان نومیالی

❖ د کتابونو پرته کور مثال داسې وي، لکه په یو جسد کې چې روح نه وي.

استاد نصرت الله مومند- ژباړه

❖ څه پوه شوي خاینینو دا خو ددې دنیا شرم دی د اخرت د ورځې په اړه مو فکر کړی؟

سنګر عزیزي

❖ ډېر افسوس دی ستاسې په قضاوت، چې نه د الله تعالی په کتاب فیصله کړئ او نه د قرانکریم منئ، نه د شاهدانو غږ اورئ او نه



ثبوت، یوازې ډالر او چوکی ددغه قسم اشخاصو لپاره ارزښت لري.لعنت

سنګرعزیزی

❖ د خوښۍ شېبې مې هم یوازې تېرې کړې، خو ته رانغلې، ځکه رانغلې، چې په فکر دې غرور به دې تر پښو لاندې شي!؟

استاد عبدالله ریاض له واله

❖ د یوه ملت د دېوالونو، پلونو او سرکونو ورانول دومره بد او خطرناک نه دي، څومره یې چې د ذهنیتونو ورانول خطرناک دي.

استاد محمد خلیل شینواری

❖ دلته ذهني ارامتیا نشته؟ ولې چې له دې خایه نور انسانیت کور وړی.

څارنوال حکیم الدین منخني

❖ انسانیت کډه کړې او ښه سمه یې کړې. ځنګل کې اوسیږو!

استاد حکیم الدین منخني

❖ د نظام د اصلاح لپاره معقوله او پر همکارۍ ولاړه هڅه د هر هېوادوال مسوولیت دی، مګر د نظام د کمزوري کولو یا یې له پښو غورځولو دسیسه ملي خیانت دی.

عبدالغفور لیوال

❖ زه چې د بل مجبوریت نه شم درک کولی، نو بل به زما مجبوریت څنګه درک کړي.

استاد عبدالله ریاض

❖ هر چیرته چې منطق او دلیل موجود وي، هلته جنګ او لانجه نه رامنځته کېږي.

خوان ژورنالیست توفیق ایوبي

❖ د خبرو په جریان کې د خپل مخاطب په سویه الفاظ کاروه.

خوان ژورنالیست توفیق ایوبي

❖ ستونزه په هره ټولنه کې شته، خو د منځه وړلو لپاره یې، جګړه د ناپوهو ملتونو لومړی انتخاب دی. او د پوهو او عقلمندو ملتونو وروستی انتخاب.

استاد محمد خلیل شینواری

❖ په ژوندانه کې تا راسره ډېره وفا کړې، خو یوه وعده راسره هم وکړه، چې زما له مرګ وروسته په خپل زړه کې زما ځای بل شخصیت ته مه ورکوه.

انجینر فرهاد الله قاضي زاده

❖ تل کوښښ وکړه، چې موقف د استعداد په اساس ترلاسه کړې، نه د تعلق او چاپلوسي په اساس کنه بیا به بد برخلیک اخته شي.

استاد زبیدالرحمن همت

❖ په دروغ ویلو سرد ګټل ښه نه؛ بلکې په رښتیا ویلو سره بایلل ښه دی.

استاد زبیدالرحمن همت له واله

❖ سړی چې په هیڅ نه پوهېږي، وایې په هر څه پوهېږم، خو چې په هر څه پوه شي، بیا وایي چې په هیڅ نه پوهېږم.

هدایت ستوري



❖ ستا له تګ وروسته!

نه مې دا زړه، زړه پاتې شو او نه هم هغه پخوانۍ هیلې پاتې شوې.

رحمت الله خادران صافي

❖ مهمه نه ده، چې زه هر وخت یو څه ووایم، اکثره وخت زما خاموشي ډېر څه وایي.

وسیم اکرم مبارز

❖ ډېر مې زړه را غټ کړ، چې ستا نوم ترې لرې کړم، خو اجازه یې رانه کړه!!

استاد عبدالله ریاض

❖ واده له هر چا سره کولی شې، خو مینه نه.

ژورنالیست توفیق ایوبي

❖ مبارزې او د رښتیا ویلو څخه مه تېرېږئ، نه دې څوک رزق کمولی شي او نه دې څوک د خپلې نېټې نه مخکې وژلی شي.

عبدالرحمان معاون

❖ قهرمان دا نه دی، چې جنګیالی وي، بلکې قهرمان هغه دی چې په قلم او ښایسته ګې ځان نړیوالو ته وپېژني.

استاد زبیدالرحمن همت

❖ هیڅکله همت او وړتیا له لاسه مه ورکوي، تل به کامیابي ستاسو وي.

وحیدالله

❖ د بې اتفاقۍ پينځه زره کلن تاريخ لرو، خو پينځه اساسي او بنيادي کارونه مو نه دي کړي.

انجينر فرهاد الله قاضي زاده

❖ زمونږ فرهنگيانو تراوسه هم دا فرهنگ زده نه کړ، چې د وخت په ارزښت پوه شي.

دوست محمد دوست

❖ هيڅکله چا ته مه وايه چې ته بدرنگ يې، کېداى شي هغه له تا ښکلې وي.

نجيب الله عزيز هوتک

❖ يوه غداره مرمۍ يوازې يو انسان وژلی شي، مگر يو خاين قلم ملتونه د تباهۍ کندې ته غورځوي.

استاد محمد خليل شينواری

❖ راځي! چې شيانو ته له مثبتې زاويې وگورو او د منفي بافۍ پر ځاى د مثبت فکر د توليد فابريکه په کار واچوو.

استاد حکيم الدين منخنی

❖ ځينې خلک سپړل شوي نه وي، د ارام سمندر په څېر غلي درومي، زما په سبو کې کابو اتيا سلنه ملگرى همداسې دي، خو هر يو چې مې غږولی، سپړلی او د يوې موضوع په اړه مې ترې معومات غوښتي، نو د بلا مالوماتو څخه ډک دي!

وفيع نايبزاى

❖ تمه چې پيداشي، مينه ورکېږي.

بخت الله ايوب



❖ تر ټولو گران کار جاهل ته قناعت ورکول دي.

ارواپوهنه

❖ چې لباس يې ښکلی وي او اخلاق ونه لري، لکه ډېران چې په گلونو کې پټ کړي.

انجينر سبحان الله بيان

❖ وخت تر سرو زرو هم زيات اهميت لري، ځکه که سره زر له لاسه ورکړو، نو بيرته لاسته راوړل يې ممکن دي، مگر د وخت دوباره راتگ هرگز ناممکن دی، نو بنأء د خپل ځان سره تر ټولو ستره جفا او ستر تاوان د وخت ضايع کول دي.

استاد محمد خليل

شينواری

❖ هغه کسانو ته، چې مظلوم افغانان په شهادت رسوي، د ورور ويل د اسلام او هېواد سره جفاء کول دي.

ښارنوال خواجه کامران

❖ په افغانستان کې متمرکز نظام ددې هېواد د تاريخي او اوسنيو واقعيتونو سره کره او دا نظام د يوې واقعې لويې جرگې له لوري چې د ټول ملت نه يې استازيتوب کاوه، غوره شوی دی. هغوی چې لا يې موقف د هېواد په حقوقي نظام کې تثبيت نه دی، نه شي کولای؛ حتی د خپلو بهرنيو مداخله گرو په مرسته چې د سفير يا بل هر موقف لرونکی وي، ملي اراده کې بدلون راولي.

عبدالستارسعادت

❖ زړه ساتونکې جملې! ښایسته او خوږې جملې چې دوست دې په اخلاص ووایې:

زه درسره یم!

آریان پښتو کتابتون

زه دې څنګ ته راځم!

زه درسره مینه لرم.

محمدغني فاروقی

❖ کله چې یوه هګۍ د بهرني فشار له امله ماتېږي، نو یو ژوند پای ته رسېږي.

کله چې یوه هګۍ د داخلي فشار له امله ماتېږي، نو یو نوی ژوند پیلېږي. پام مو وي، چې ستر بدلونونه تل د انسان له خپل وجود پیلېږي.

نادر دانش

❖ حق وینا او د اصلاح لپاره هڅې مو دیني مسوولیت او هم راباندې د خپلې ټولنې قرض دی.

استاد محمد خلیل شینواری

❖ دا د تاریخ جبر دی او جبر او جبر نازولی دی.... .

سایل

❖ ای! زما په زړه کې یواځینۍ مینه ستا لپاره ده، که ته یې ازمایښت کوې، نو بیا دې په خپل زړه لاس کېده.

درویش تنها



❖ کله نا کله داسې څه ووینې، چې په لیدو یې سړی وجدان ته خجالته شي، مونږ په دې حال کې یو جواب نه لرو، نو هغوی چې د همدې په وینو لړلې ډوډۍ خوري څه حال به یې وي.

طاهر صافی

❖ نن چې څوک د تقدس ډېرې چغې وهي، خپله له ډېرو چټل وي.

استاد نصرت الله مومند

❖ دلته د هغه چا خبرې وزن لري، چې په لاسونو کې یې تیرې نیولې وي.

استاد محب الله الایار

❖ نن یو استاد سره ناست وم، لکه نړۍ سره چې ناست وم.

احمد علي خمزه

❖ ځینې هره ورځ د قرانکریم ترجمې ته ناست وي او ورسره هره ورځ له بیت المال غلا هم کوي.

انجینر فرهادالله

قاضیزاده

❖ ځینې اشخاص د ځان لپاره په هر چوکاټ کې ځای پیدا کولی شي، حتی که د هر ډول شرم او خجالت سره مخ هم شي، مګر یاد شخص بیا په یوه برخه کې هم ځان په بشپړ ډول نشي رسولی، خو بیا ځینې اشخاص په خپلې وړتیا د خلکو لخوا په یوه برخه کې ځای پر ځای کېږي او په بشپړ ډول یې سرته رسوي.

ژورنالیست توفیق ایوبي

❖ ژوند داسې وکړه، چې یو څوک ستا له کبله وخاندي!

انجینر رحیم الله صافی

❖ ژمنه کوم، ترڅو ژوندی یم، په تمه دې یم.

اکرم شګیوال

❖ تېر وخت باید هیڅکله په هېر حساب نه شي، ځکه تېر وخت زمونږ تجربه ده، چې په راتلونکي کې راسره مرسته کولی شي.

ډاکټر هارون جېلانی

❖ خپله ملګرتیا هغه چاته ښکاره کړه، چې په قدر دې پوهېږي.

ډاکتر وحیدالله

❖ جامې رنګ په رنګ اغونده، خو خپله یو رنګ اوسه.

رفیع الله صمیم له واله

❖ یا ځان هغسې وښایه چې یې، یا هغه شان اوسه چې ځان ښایې.

بسطانی

❖ چې کینه درسره کوي مینه ورسره کوئ، چې بد درته وایي قدر یې وکړئ، چې ځوروي مو دعا ورته کوئ.

استاد ایمل حقمل

❖ ملګرتیا په رښتیا یوه سرمایه ده.

استاد ایمل حقمل

❖ داسې د وینو باران شوی دی په دې ښکلې وطن، چې د سپرلي د راتلو هیڅ څه بهانې نه وینو.

شیرین اغا الهام

❖ هر څوک د خپل توان په اندازه قوی او مهم دی هڅوک د بل چا ځای نشي نیولی.

شیرین اغا الهام

❖ دی ته خپه نه یم چې ولی په لوړو څوګیو ګمارل شوي.



دی ته خپه یم که هره نادوده وکړي څوک به یې لري کولی هم نه شي. ځکه چې په خپل زور راغلي، څوګیو ته ګمارني نه دي شوی بلکې څوګې ورته رامنځته شوي.

استاد شیرشاه همدرد

❖ ګیلې هغه څوک کوي چې د خپل ژوند نه یې ګټه نه وي پورته کړې او ژوند یې نیمګړی وي.

استاد خوشحال جواد

❖ ته د نړۍ لپاره یو کس یې، مګر کېدای شي د یو چا لپاره ته نړۍ یې.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ ځوانه! ستا پر مخ به هغه وخت د ښو لارو دروازې خلاصې شي، کله چې ته له منفي فکره ځان خلاص کړې.

صادق الله صادق

❖ مینه تا دې هڅوي، چې د ژوند کولو چل درزده کړي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ ژوند کول مهم نه دي، په ژوند پوهېدل مهم دي.

صادق الله صادق

❖ مخکې له دې چې پر بل نیوکه وکړې، لومړی ځان اصلاح کړه.

صادق الله صادق

❖ له هوسې مینې ځان وساته، ځکه تلپاتې نه وي.

صادق الله صادق

❖ له زړه دې د مینې کور جوړ کړه، ځکه بې مینې زړه، زړه نه دی.

صادق الله صادق

❖ تل د نورو لپاره داسې کار وکړه، چې پر شونډو یې موسکا خوره شي.

صادق الله صادق

❖ په مینه کې یو دروغ ویل به دې ژوند درتباه کړي.

صادق الله صادق

❖ انسانان په دوو وختونو کې یو بل هېروي:

- هغه وخت چې له یو بل سره مینه ونه لري.
- او هغه وخت چې له یو بل سره بې حده مینه ولري.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ ځینې وخت ستا ترلي پلانونه هیڅ کار نه ورکوي، مه وارخطا کېږه، الله تعالی له تا ښه پوهېږي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ یوازې ودرېدل، له هغه چا سره له ودرېدو ډېره ښه ده، څوک چې تاته ارزښت نه درکوي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ مینه لکه ساه اخیستل، هیڅکله یې ودرولی نه شم.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ هغوی چې چوپتیا یې اختیار کړې ده، پوه دي او هغوی چې خبرې کوي، ناپوهه.



صادق الله صادق - ژباړه

❖ غلطي د کتاب یوه پاڼه ده: مگر اړیکه د یو پوره کتاب مانا لري، نو ټول کتاب د یوې پاڼې په خاطر مه پرېږده.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ په ژوند کې ستره خوښي د هغه کار کول دي، چې خلک وایې دا یې نه شي ترسره کولی.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ تل خپل ماغزه د ښو کارونو په فکر کې کاروه.

صادق الله صادق

❖ وفا له کب څخه زده کړه، ځکه کله چې له اوبو څخه بېلېږي، مري. نه د شاتو له مچۍ څخه چې له یو گل سره سترې شي، بل ته لاړه شي.

t.me/AryanPashtoLibrary

صادق الله صادق - ژباړه

❖ خندا د مینې پیل دی.

صادق الله صادق

❖ له مهربانۍ بله ښه سرمایه نه شته.

یاد یې لره، چې ته تر ټولو ډېر سرمایه دار یې.

صادق الله صادق

❖ دوه شیان هیڅکله له تعقیب پرته مه پرېږده:

رښتینی ملگری او رښتینې مینه.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ ژوند له درېیو کلیمو جوړ دی: خندل، بښل او هېرول.

نو وخانده (موسکا وکړه)، وبښنه او د بل (بد) هېر کړه.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ له هرې منتې وروسته یوه کیسه پای ته رسېږي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ ژوند دا نه دی، چې څنګه یې تېروو، ژوند هغه دی، چې څنګه یې غواړو.

صادق الله صادق- ژباړه

❖ هیلې دې له لاسه مه ورکوه، ځکه ته نه پوهېږې، چې سبا ورځ تا لپاره څه لري؟

صادق الله صادق

❖ د مینې پیل له دوستۍ څخه کېږي.

صادق الله صادق

❖ په دنیا کې د هر څه د تاریخ تېرېدلو نېټه شته، خو د مینې نه.

صادق الله صادق

❖ د دښمن پرمخ ستره څپېړه ستا د بریالیتوب ده.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ کله چې ژوند کې مینه وي، ژوند لا پسې ښکلی شي.

صادق الله صادق - ژباړه



❖ خینې وخت ته باید موسکی شې، ددې لپاره چې خپلې اوښکې په شا وتمبوې.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ د نورو د بدیو شهارلو او ګوته نیولو پرځای خپلې چارې سمې که.

آریان پښتو کتابتون

صادق الله صادق

❖ ژوند رسامي ده او ته د خپل ژوند رسموونکی یې.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ انسانان یو بل ته دوکه ورکولی شي، خو رښتینې مینه هیڅکله چاته دوکه نه ورکوي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ د وعدې مانا د لمر راختلو په څېر ده!

د لمر نن راختل د سبا ورځې د راختو وعده کوي، که چېرې راونه خېږي، نو زمونږ ژوند کې به رڼایي نه وي.

نو هر چاته په کار دي، چې د لمر په څېر په خپلې وعدې ولاړ اوسي.

صادق الله صادق - ژباړه

❖ مبارزه هغه څه دي، چې تاسې د کامیابۍ تر سرحده رسوي.

صادق الله صادق

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

ځوان فکر

راټولوونکی: محمد هارون ایوبي



پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټيلګرام چينل لينک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فيسبوک پاڼه 👇
آريان پښتو کتابتون